په امانت کی خیانت مه کوی

له عباده بن صامت څخه روایت دي چي دالله رسول «ﷺ» به فرمایل: حتي تار اوستن هم وسپاري، له خیانت څخه ځان وژغوري ، دا ځکه چي « خیانت» دقیامت په ورځ پیغور اوپسیماني وي.»

(رواه النسائي - مشکوة)

شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتی ارگان

خیانت مه کوی

لوی خدای (جل جلاله) فرمایي: «ای هغو کسانو چی ایمان یي راوړی دي(ای مؤمنانو! له الله (جل جلاله) اوله رسول (صلی الله علیه وسلم) سره خیانت مه کوي. اوپه خپلو امانتونو کی خیانت مه کوي، حال داچی تاسی پوهیږی چی دامانت ساتل واجب دي.

سورة الأنفال ۲۷

لومړی کال | پنځه دیرشمه گڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د سنبله د میاشتی (۱۹) | د ۱۹۹۶ میلادی کال: سپتمبر (۹) | د۱٤۱۷ هـ ق کال ربیع الثاني (۲٦)

امیر المؤمنین محترم ملا محمد عمر«مجاهد» قوماندانانو ته په خپلو خبرو کي وویل:

دخپل آمر هغه خبره دی ومنله شی چی د خدای (جل جلاله) اود هغه د رسول ﷺ له اوامرو سره سمه وی

مور دخپلو کارونو سمون ته متوجه یو او کوښښ کوو چی خپلی خالیگاوی له مینځه یوسو

په عبادت هغه وخت ثواب ترلاسه کیږی چی په شرعی طریقه ترسره شی

امیرالمؤمنین داسلامی تحریک یو شمیر قوماندانانو خپل حضور ته ومنل اولازمی لارښوونی یي ورته وکړي.
ده په دی کښته کی هغوی ته په خطاب کی وویل: هر چاته حق معلوم دی اوهر څوك باید

فکر وکړی چی زه خدای «ج» په کومو کارونو مکلف گرزولی یم . اطاعت دی ته وایي چی دخپل آمر هغه خبره ومنل شی چی د خدای «ج» او دهغه درسول «ص» له اوامرو سره سمه وي چی په دی توگه به هم دی اوهم ټولنه خوشاله وي.

امیرالمؤمنین وویل: موږ باید دخولی خبری سل نه راوباسو، د خدای «ج» په عبادت هغه وخت ثواب تر لاسه کیږی چی په شرعی طریقه تر سره شي، موږ دخپلو کارونو سمون ته متوجه یو اوکوښښ کوو چی خپلی خالیگاوی له منځه یوسو، داچی تر اوسه

پوری مشکلات نه دی حل شوی دا ددی معنی نه لری چی گوندی موږ په غوڅه توگه کارونو تمصوّجه نه یو.
دامیرالمؤمنین دنیکو لارښوونو او سپارښتنو په مقابل کی ټولو نظامی قوماندانانو له پاك

خدای «ج» څخه پخپلو ورسپارل شویو دندو کی د بریالیتوب توفیق وغوښت او ژمنه یي وکړه چی انشاء الله موږ به تر وروستی سلگی پوری کوښښ کوو چی ستاسو په لارښوونو عمل وکړو ځکه چی په دی کی زموږ ددنیا اوآخرت نیکمرغی نغښتی ده.

دابه کوم کافر وی چی دطالبانو خلاف دجهاد فتوی ورکړی

طالبان داسلامي امت لپاره یوه ستره سرمایه ده

مولوي راحت گل دشریعت اونیزی دمسئول مدیر مولوي احمد جان«الله» په یوه ځرگندونه کی وویل: زموږ وفد چی کابل ته تللی ؤ هغه یو مصالحتي وفد وو نه داچی هغوی ته وطالبانو په خلاف دجهاد فتوي او دوي ته

الشیخ مولوي راحت گل

برأت ورکړي بلکی دایو غیر جانبداره وفد و چی کابل ته تللی وو، موږ تر اوسه له طالبانو کومه بي ادبي هم نه ده محسوسه کړي هغه چاچي داخبره پاتي په (٤)مخ

دپکتیا د دیندارو خلکو له هغو هلو ځلو اوهمکاریو څخه مننه کوو چی دطالبانو داسلامی تحریك دپرمختگ لپاره یي سرته رسولی دی

امیرالمؤمنین

دپکتیا مسلمان خلك به لکه د خپلو نیکونو په شان یوځل بیا دهیواد دنجات لپاره خپل کوښښونه چټك کړی

(مولوی جلال الدین حقانی)

دمجاهد شخصیت محترم مولوي جلال الدین حقاني په مشري دلوي پکتیا یو ستر هیئت

کندهار ته ورسید، دمجاهد شخصیت محترم مولوي جلال الدین

حقاني سره په دي سفر کي دلویی پکتیا یو زیات شمیر قامي مشران او قومندانان ملگري

دي چي دځینو نومونه دادي: محترم حاجي محمد نعیم پاتي په (٤)مخ

حملات متعدد نیروهای اداره ائتلافی بر خطوط مقدم جبهه میدان شهر به شکست فضیحت باری مواجه گردید

یك فروند طیاره هلیکوپتر و چهار عراده تانك دشمن طعمه حریق گردید

خبر نگار ما از میدان شهر خبر میدهد که نیروهای نظامی اداره ائتلافی بعداز

شکستهای تاریخی در پکتیاوبزرگ، حملات متعددی برخطوط مقدم جبهه در میدان شهر

انجام داده که از طرف نیروی هوایی اداره ائتلافی حملات آنها به یاری بقیه ص (٤)

شیخ الحدیث د تره خیلو مولوي صاحب «شریعت » ته په یو بیان کي وویل:

با طل دتل دپاره دحق په مقابل کی په یکاره متحد خو په باطن کی شندلی وی

طالبان اکثراً عالم زاده گان اوصالح زاده گان دي

زموږ په هیواد کی هر نوع فسق اوفجور لکه قتل، چور اوچپاول ، اوپا دمسلمانو بی

عفتی او بی سیرتی دبیگانگانو او کفری دهیوادونو په دستور سرته رسیدلی دی، تن

چی په هیواد کی فس اوفجور روان دی په حقیقت کی دفاسدانو اوملحدانو پاتي په (۲)مخ

ازړي ولسوالي له مخالفو ځواکونو څخه آزاده شوه

طالبان دعلی شیرو دغره لوری اوحاکمی خوکی ته ورسیدل

د ازړی دیندارہ خلك تیار دی چی پنځه سوه تنه تکړه ځوانان دطالبانو مرستی ته ولیږي

له آزړی ولسوالي څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی په لویه پکتیاکی دطالبانو داسلامی تحریك تر بریالیو عملیاتو وروسته

دتیری پنجشنبی په شپه دسنبلی په پنځلسمه نیټه داسلام زړورو سپاهیانو دازړی په ولسوالی کی دمپاندی په کڅ کی

دتخریبکارانو دتخریبی فعالیتونو دشنډولو په غرض بریالی عملیات پیل کړل. جگړه دشپې تر دوو بجو پوري روانه وه چی

په نتیجه کي دازړي ولسوالي په غوڅه توگه دمخالفینو له واك څخه ازاده شوه او دطالبانو داسلامی تحریك زړور پاتي په (۲)مخ

شیخ الحدیث حضرت مولانا مغفور الله له شریعت سره په مرکه کی:

دطالبانو اسلامي تحریك له نیمایي افغانستان څخه زیاته برخه ترکنټرول لاندې راوستلی ده

پوښتنه : دطالبانو اسلامی تحریك اودهغوی مقابل لوري څه ډول ارزیابی کوي؟

ځواب: طالبانو دخپل سر اومال په قرباني کولو سره دټول عالم اسلام ذمه واري

اخیستي ده ، په داسي حال کي چي په ټوله نړي کي په بشپړه توگه اسلامي حکومت پاتي په (۲)مخ

در ولسوالي انجيل ولايت هرات جلسه پرشکوهي برگزار گرديد

خبرنگار هفته نامه شریعت از ولایت هرات خبر میدهد که : در ولسوالي انجیل ولایت هرات جلسه پر شکوهي برگزار گردیده بود که درآن علاوه بقیه در ص (٤)

والي محترم هرات به افتخار قونسلهاي دول مسلمان همسايه ضيافتي ترتيب داده بودند

خبر نگار ما از ولایت هرات خبر میدهد که والي محترم هرات جناب ملایار محمد آخند به افتخار قونسلهاي محترم دول همسایه ضیافتي حسن نیست ترتیب داده بودند که درآن ضیافت قونسلهاي محترم جمهوري اسلامي پاکستان ، جمهوري اسلامي ایران وقونسل محترم جمهوري ترکمنستان حضور به هم رسانیده بودند.

موږ ته پکار دی چی له خپل قدرت څخه ناوړه استفاده ونه کړو

موږته لازمه ده چي له خلکو سره داسلام دمقدس دین په چوکاټ کی چلند وکړو (انتظیه رئیس ملا محمد حسن)

موږته پکار دی چی دبیت المال په مالونو کی خیانت ونه کړو

(مولوی عبدالقادر) پاتي په (۲)مخ

محترم مولوی امیرخان متقی له بی بی سی سره په مرکه کي:

هرڅوك چی مسلمان وی اوافغان وی هغه حق لری چی پخپله خاوره کی خدمت وکړی

دکابل له ائتلافی اداری سره خبری کومه نتیجه نه ورکوی بلکی دوخت ضیاع ده

محترمو هیوادوالو ته یاد دی چی په لویه پکتیا کی د دیندارو اومسلمانو هیوادوالو په

مرسته په دی وروستیو وختو کی دطالبانو داسلامی تحریك قهرمانو ځواکونو بولې بریالی

عملیات تر سره کړل چی په بدل کی دکابل ائتلافی اداری په میدان ښار کی پاتي په (٤)مخ

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

په چیچینیا باند دروسانو تیری ص۲

دشریعت تبصره ص۲

دادب ملغلری ۳مخ

نترونو نه نوزکارنی ۳مخ

هغه هر چاته په کرکه گوری ۳مخ

سرمقاله

ربانی اوس په سترگو نه وینی

وایی په دولت کی کمونستان نشته!!؟

ربانی اودهغه ملگرو چی له اسلامی جهاد سره په خیانت او له اسلامی مبارزی څخه په انحراف کړلو یي د څو مادی نعمتونو، ځانی خواهشاتو او سکتریستی گټو اواستلاً دلاسته راوړلو دپاره له ملحدانو اوکمونستانو سره ائتلاف وکړ، او دهغوی په کمونستی اوالحادی تشکیلاتو او اداره باندی یي داسلامی دولت غولونکی لیبل ولگاوو، اوپه دی سره یي د گران افغانستان او اسلامی جهاد نوم په ټوله نړی کی بد کړ. د ربانی ددغه بد عمل په خلاف د یادرکه مسلمانانو کرکه راپورته شوی ده او دده په خلاف لسانی، قلمی او وسله واله مبارزه روانه ده ځو دی دکمونستانو له ولکی څخه ازاد کړي، کمونستان محاکمه او په هیواد کی واقعی اسلامی دولت رامنځ ته کړي. خو ربانی خپلو غیر اسلامی خواهشاتو پروند کړی اواوس په سترگو نه وینی ، وایي په دولت کی کمونستان نشته !!! په داسی حال کی چی ددولت ټوله بیروکراسی له کمونستانو څخه ډکه ده ،نظامی قطعات دبابه جان مشهور کمونست ترقوماندی لاندی دي، پخوانی خاد په خپل ټول قوت سره موجود دی ، او دهڅو پاتی په (۲) مخ

در سایه شریعت درافغانستان زندگانی همه ملیت ها را بدون تبعیض خواهانیم

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر«مجاهد»

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامی تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: دلیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسئول مدیر : مولوی احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښورکی دطالبانو داسلای تحریك نمائندگی
دیوی ګڼی بیه : په هیواد کی (۵۰۰) افغانۍ
: په پاکستان کی (۳) کلداری

سرمقاله ...

کمونستي تشکیلات دپخوا په شانې فعال دي.

په کمونستانو باندی دسترګو پټولو دغه عمل خو خلکو ته له.پخوانه معلوم وو، خو اوس په داسی حال کی چی له یوی خوا دحکومت کابینی له دولتی پوستونو څخه دکمونستانو دلری کولو فیصله دهغه مجبوریت له مخی کړی ده چی دغو کمونستانو دحکومت ټولی چاری له رکود سره مخامخ کړي دي، دهیواد صدراعظم او کابینه دکارکولو هیڅ واك نه لري، هر څه دکمونستانو په لاس کی دی ، اوله بلی خوا د رباني هغه انکار چی په دولت کی اصلاً کمونستان نشته، دافکارو دغه تضاد په حقیقت کی په دغه مسلمان او مجاهد ملت باندی لوبی کول دي. له یوی خوا صدراعظم صاحب فریاد کوی چی کمونستان دمجاهدینو په خلاف په انتقامی فعالیتونو باندی بوخت دی او له بلی خوا جمهور رئیس په یوه مرکه چی دشهادت ورځپاڼی تیره چارشنبه خپره کړی ده وایی:« ... درین نظام اصلاً کمونستها وجود ندارد افرادی در گذشته بودند یکعده اشخاص که گفتم آنها گریختند...!!» ددی دپاره چی دکمونستانو دموجودیت دغه مردار پیټی بیرته دحکمتیار په ورو باندی ورواچوی او دکابینی فیصله یې ور رده کړی وایي:« ... واین فیصله هم به این شکل نبود که ما بالفعل به این پرابلم روبرو هستیم، بلکه فیصله به این اساس صورت گرفت که اگر جایی کس راسراغ می کنند!! او را می تواند که خود وزیر دور بکند، پس این به این معنی که اصلاً ماپرابلمی نداریم ، هیچ مشکلی وجود نداشته ، تنها البته یك مشکل که در گذشته بود که بعضی گروهها مخالف بودند ، وجود جنرال دوستم بود که جنرال دوستم را میگفتند که تشکیلاتی دارد که بعض از جنرال های کمونست همراه اوست، البته در تشکیلاتش بوده وامروز البته به حیث اپوزیسیون است..» په داسی حال کی چی دوستم یو وخت د رباني مشبنی (زوي) وو او دولتی ادارو په ادعا کوله چی اصلاً د دوستم دملیشی په نوم تشکیلات وجود نه لری هغه ټول داسلامی اردو جز ګرزیدلی دي.

بوڅو اونی مخکی د رباني ، حکمتیار او سیاف دتحریك پخوانی ملګری ، او اوس ددوی دریو سرډیر نژدی سلاکار چی ښه نیك اسلامی احساسات لري، په مسلمانانو یې خوابدیری او دکمونستانو سخت دښمن دی ، دلته راغلی وو دکابل دنوی ائتلاف او دولت نه یې زیات شکایتونه درلود اوویل یې:« مارباني، حکمتیار اوسیاف ته وویل چی که له تاسی څخه په کابل کی دوه سوه مسلمانان تحریکی ملګری راپورته کړم نو لاندی به توله ګندګی اوملحد کمونستان پاتی شي، قدرت دتاسی په لاس کی نه دي، هرڅه دکمونستانو په لاسونو کی دی اوتاسی یې دلاس اله یاست...» اوس چی دحکمتیار صاحب شکایتونو ته او دهغه په خلاف د رباني انکار او الزامونو ته ګورو دمسلمانانو شکایتونه، دردونه اوحتی په خلاف یې مبارزی له ښکاره حقیقت څخه سرچینه اخلی چی هیڅوك سترګی ورڅخه نشی پټولی.

په کابل کی کمونستانی ښځی دطالبانو د اسلامی تحریك په سیمو کی داسلامی شریعت دتطبیق په خلاف شعارونه ورکوي، اسلامی قوانین وحشی اوغیر متمدن بولی ، دښځو دحقونو تر پردی لاندی فساد ، فحشا او افغانیت ضد اعمالوته دعوت ورکوی. له طالبانو څخه غوښتنه کوی چی سحی دی دخارجی مؤسساتو دفترونوته له پردیو سره کار کولو ته پرېږدی . او که نه نو ملګری ملتونه دی دطالبانو داسلامی تحریك په خلاف عمل وکړي، هغه ملګری ملتونه چی ټول پروګرامونه یې داسلام اومسلمانانو په ضد پلانیږي، خو رباني صاحب او دهغه په اصطلاح اسلامی دولت یې په سترګو نه وینی ، دغه اسلام ضد شعارونه په غوږو نو نه اوری او ددښمنانو په دسیسو نه پوهیږي، لوی خدای«جل جلاله» فرمایي:« چاته چی الله تعالی هدایت وکړي، نو هغه سمه لارموندونکی دي، اوڅوك چی الله تعالی ګمراه کړي، نو دغه ګمراهان نامراده دي. موږ ډیر له پیریانانو اوانسانانو څخه د جهنم (دوزخ) د پاره پیدا کړی دی ، ددوی زړونه شته خو فکر نشی کولي، ددوی سترګی شته خولیدل وربانډی نشی کولای، ددوی غوږونه شته خو اوریدل وربانډی نشی کولای، ...» (الاعراف - ۱۷۸-۱۷۹)

ای لویه خدایه : په مسلمانانو باندی ورحیبږه، بی لاروته سترګی ورکړه دحق لیدونکی ، غوږونه ورکړه دحق اوریدونکی او زړونه ورکړه په حق پوهیدونکی ، خو له کمونستانو څخه بیل او درستونی مسلمانانو په لیکوکی و دریږي، دواقعی اسلامی دولت دپاره کـار وکـړی او له کـفـارو سـره دموالات څـخـه ځـان وژغـوري. آمین

دشریعت تبصره

راځئ چي قضاوت ددین عالمانو ته وسپارو

دنړی په تاریخ کی په بیلو بیلو ټوټنو کی وخت په وخت خوځښتونه، قیامونه اوحرکتونه پیل شوي دي، دا ددی لپاره چی هغی ټولنی یومثبت تحول ته ضرورت درلود او هغه ټولنه دی ته اړه وه چی دیو پاڅون په نتیجه کی له خپل حرکت څخه مثبته نتیجه ترلاسه کړي، خو ځینې خوځښونه او پاڅونونه داسی هم وو چی دعـام ملت او دملت دټولو وګړو همکاری ورسره نه وه نو نتیجه یې هم نه ده ورکړی اوپه نیمه لاره کی ناکام پاتي شوي دي، اما ددی پرخلاف کوم پاڅون او کوم حرکت چی دټولنی له منځ څخه راپورته شوی او دټولنی له غوښتنو سره سم یې حرکت پیل کـړی دی نو دیری پړاو ته رسیدلی اوخپل ټاکلی هدف یې ترلاسه کړی دی.

ډیر لری به نه ځو له کومی ورځی نه چی زمـوږ په اسلامي هیـواد کی دیوی ډلګی کمونستانو له خوا نظامی کودتا وشوه، نو دوی خپل تبلیغات داسی عیار کړل چی ګوندي دملت ملاتړ ورسره دی او دملت له ارادی سره سم یې دغه اقدام کړی دی، خو موږ ټولو د سرپه سترګو ولیدل چی انجام یې څنګه شو داځکه چی دوی په دروغو دعوا کـړله چی دملت ملاتړ ورسره دی، خو په حقیقت کی ټول ملت ددوی پرخلاف راپورته شو اوله داسی سرنوشت سره یې مخامخ کړل چی بیا به هیڅکله دملت دملاتړ لاپې ونه وهي.

دطالبانو اسلامي تحریك ددغه شان خوځښتونو او پاڅونونو یوه لړی ده داځکه چی په هیواد کی دکمونستی نظام له راپرزیدو څخه وروسته زموږ له مسلمان ملت سره هغـه څه وشول چی دچا په فکر کی هم نه ګرځیدل، نور جرمونه او فسادونه خو لا پریږده چی ددوی هر یو تن دځان لپاره دبی شمیره کورونو قبالی واخیستی، ډیرو مړو شویو کـالو کورونه یې دخپلو ځانونو په نامه قبالـه کړل او داسی یې وښودله چی ژوندی دی اوله وطن څخه وتلی دي ملي اوشخصي شتمني ولوټل شوي، دخلکو ناموس ترګواښ لاندي راغلی اودانسـان وژل عادي بڼه غوره کړه، نو ددغه شان فساد ، ظلم او جرمونو دپای ته رسولو اوپه هیواد کی داسلامي نظام دحاکمیت لپاره ددین طالبانو یو حرکت ،یو پاڅون او یو خوځښت پیل شو، دا حرکت او داپاڅون دملت له منځ څخه راوټوکیدو داځکه چی ټول مسلمان ملت د اور په لمبو کی سوزیدو او دیوه داسی نجات بخښونکی حرکت انتظار یې درلود چی دوی ته له دغه ستر بحران په تیره بیا پاټك سالاری څخه نجات ورکـړي او په نهایت کی په خپلو کنډواله شویو کـورونو کی دامن ژوند پیل کړي.

دطالبانو اسلامي تحریك چی دملت له منځ څخه راپورته شوی اودمسلمان ملت له ارادي سـره سم پرمخ روان دی په ډیره لږه موده کی وکـړای شول چی له نیمایي افغانستان څخه زیاته سیمه پخپل کنټرول کی راولي اوپه دي توګه وکړای شي په لومړي قدم کی خپلو یو شمیر هیوادوالوته د واړمن ژوند امکانات برابر کړي. دطالبانو اسلامي تحریك دخپلو مسلمانو اودیندارو هیوادوالو په ملاتړ باور لری دهمدی باور په لرلو سره مخ په وړاندی روان دی او ترهغه پوری به مخ په وړاندی ځي ترڅو په ټول اسلامي هیواد کی دظلم اوفساد لمن ورټوله او ددوه میلیونه شهیدانو سپیڅلی ارمان تر سره کړي.

که څه هم دکابل دائتلافی اداری مشران وخت په وخت ناوړه تبلیغات کوي اوداسي ښیي چی ګوندي طالبان دنورو دلاس آله دي او دنورو په اشاره اوملاتړ عمل کوي، خو دوی په دي نه پوهیږي له هغه چاسره چی دنورو ملاتړ ملګری وي اودملت په اراده تکیه ونه لري، نوسرنوشت یې دکمونستانو او دکابل داوسني ائتلافي اداری په شان کیږي، له طالبانو سره که دبهرنیو لاس وای او دنورو په اشارو یې کـار کـولای ، نو دایقیني ده چی دوسره زیات بریالیتوبونه یې نه شول ترلاسه کولای ځکه زموږ مسلمان ملت هغـه ملت دی چی دتاریخ په هره دوره کی یې پردي غلامان او دنورو ګوډاګیان رد کړي اوله منځه یې وړي دي، ملت همیشه دهغه چاملاتړ کړی دی چی ددوی غوښتني یې په پام کی نیولي او ددوی په خوښه یې حرکت پیل کړی دي.

موږ استاد رباني اواستاد سیاف ته په مسئولیت سره یادونه کوو چی که ریښتیا هم تاسو اوستاسو ټش په نوم اداری امنیت راوستلای شوای، که چیری تاسو ددی توان درلودای چی دهیواد لوری ګټی وساتی او که چیری تاسو ددی قدرت درلودای چی په هیواد کی د چور اوچپاول، ظلم اوستم، ناروا اوفحشا ، او نورو ډول ډول ناوړه عملونو مخه ونیسي، نو بیا هیڅکله ددی ضرورت نه پیدا کیدو چی دملت له منځ څخه دطالبانو تحریك راپورته شي او یوځل بیا دمدرسي او جوماتو پرځای سنګرونه خپل کړي.

دوی وایي چی طالبان دعالمانو سپکاوی کوي په داسي حال کی چی زموږ دغه اوسني اسلامي تحریك دعلماو کرامو دفتوی له مخي پیل شوی اوموږ خپل ټول پروګرامونه دعلماو په مشوره پرمخ بیایو، نو دابه څنګه ورسره ومني چی طالبان دعلماو سپکاوی کوي، خو که داکار د کابل ائتلافي اداره دعلماو سپکاوی بولي نو په دی موږ هم نه پوهیږو حال داچی هـمدغو استادانو عملاً دعلماء پرخلاف سنګرونه نیولي اوهره ورځ ددین دشمني په تنکیو طالبانو د اور بمونه وروي ، دعلمـاو فتـوای ناروا بولي اوپرخلاف یې دجنګ اورونه بلوي.

استاد سیاف وایي چی موږ همیشه له طالبانو سره دسولی لاره خپله کړی ده ، خو طالبان زموږ دسولی ځواب په جنګ راکوي. اما حقیقت دادی چی په میدان ښار باندي وروستي دری بریدونه چی ۲۳ تنه سري یې په میدان پاتي شول دا دچاله خوا ترسره شول اوددی دریو بریدونو عاملین څوك وو، چی بیا یې دخپلو مړو دبیرته وړلو لپاره دسره صلیب له نړیوالي کمیټي څخه مرسته وغوښتله ، خوهمدغو حق پالونکو طالبانو په ډیر عزت او درناوی دهغوی مړي وروسپارل.

دکابل دائتلافي اداری استادان (رباني اوسیاف) وایي چی طالبان دامریکا ایجنټان دي ځکه نو غواړي چی په هیـواد کی داسلامي حکومت داستقرار مخه ونیسي، خو موږ داقضاوت درنو لوستونکو ته پریږدو او هغه داچی که چیری ددوی دامریکا خوشحالي په پام کی نه لرلی اونه یې غوښتلی چی دامریکا په خوښه عمل وکړي، نو دکمونستانو له پرزیدو سره جوخت به یې یو ریښتیاني اسلامي حکومت جوړ کړی و، امن به یې راوستلی و، دقدرت ساتلو اوقدرت نیولو لپاره به یې بې شمیره هیوادوال نه وژل، وران شـوی وطن به یې لاپـسی نه وراناوه او داسلام په چوکاټ کی به یې د وروری لاسونه یو بل ته سره ورکړی وو نو بیا به موږ او زموږ هیوادوالو ورسره منلی وه چی دوی ریښتیا هم دوطن له استقرار او امن سره مینه لري چی په هغه صورت کی بیا دطالبانو د اسلامي تحریك راپورته کیدو ته هیڅ ضرورت نه محسوسیدو.

دوی وایي چی ګواکي طالبانو دپاکستاني علماو بی عزتي کړی ده، خو حقیقت دادی چی اوسني اکثر طالبان دصوبه سرحد په مدرسو کی دهمدغو استادانو شاګردان دي اوشاګردان همیشه دخپلو استادانو درناوی کوي په تیره بیا دیني طالبان تر بل هر چا دخپلو استادانو درناوی کوي او دا درناوی یې په عمل کی هم ثبوتلی دی.

نتیجه داشوه چی دیني طالبان نه یوازي دجنګ مخالف دي، نه یوازي دامن او استقرار پلویان دی اونه یوازي دعالمانو درناوی کوي بلکي دجنګ اوفساد په مقابل کی راپورته شوي دي، دامن او استقرار د راوستلو لپاره هلی ځلی کوي او ددیني عالمانو دحیثیت اومقام د ساتلو په غرض مبارزه کوي، نو موږ یوځل بیا دکابل دائتلافي اداري استادانو (رباني اوسیاف) ته چلینج ورکوو چی که ریښتیا غواړئ په وطن کی امن راشي، استقرار راشي ، ظلم او فساد له منځه ولاړ شي اودمسلمان ملت له ارادي سره سم اسلامي حکومت ټینګ شي نو راشئ چی خپل واك ددین عالمانو ته وسپارو، هغوی چی څه فیصله وکړه موږ به وړاندی عمل کوو، نوبیا که کوم لوری سرغړونه وکړه په هغه صورت کی بیا مسلمان ملت ښه قضاوت کولای شي.

دملګرو ملتونو مؤسسې ته یو تنقیدي کتنه

په چیچنیا باندي د روسانو تیري

مولوی عبدالحکیم "مجاهد"

لسمه برخه

چیچنیا دمجاهدینو هیواد ، دسترمجاهد امام شامل«رح» وطن ، چی یوملیون او دری لکه نفوس لري. ۸۹٪ خلك یې حنیفي مسلمانان دي . دلته اسلام د«هشام» خلیفه (۷۲٤م تر ۷٤۳م) په زمانه کی دخلکو زړونو ته رسیدلی دی . ځینې وایي چی دحضرت عثمان رضی الله عنه په خلافت کی داسلامي دین رڼا دلته راورسیده . دقسطنطنیه له فتح څخه وروسته دشمالي قفقاز په لویدیځو سیمو کی دمسلمانانو شمیره ډیره زیاته شوه .

دقفقاز سیمه دتاریخ په اوږدوکی دعثماني خلافت ، روسانو اوایرانیانو دمداخلې اومقابل دګر و ، خو وروسته یوځلي د روسي امپراطوری تر ولکي لاندي راغله اوبیا دشوروي اتحاد تر تسلط لاندي پاتي شوه چی نژدې د ٤۰۰ کاله جګړو اوږدتاریخ لري. له بشپړي آزادۍ نه پرته دغه سیمه ځو ځله دیوکال اوڅوکالونو په غولونکو تړونونو باندي آراموله‌ی.

روسانو په خلاف په جهاد او دشمالي قفقاز په یووالي کی د چیچنیا یو دیني عالم اولارښود« امام منصور» ډیر مهم رول لوبولی دی . په ۱۷۹۱م کال کی اما[illegible]سور دروسانو له خوا ونیول شو ا[illegible] په همغه کال په بندیخانه کی شهید کړای شو. امام منصور به ویل زما ژوند دجهاد دتیاری دور دی چی له ماته وروسته راتلونکي مسلمانان به دغه جهاد ته وده ورکوي.

له امام منصور نه وروسته «غازي محمد» دجهاد امام وټاکل شو.چی هغه هم د اکتوبر په ۱۷ ،۱۸۳۲م کال کی شهید کړای شو. له هغه نه وروسته « حمزه بیګ» دجهاد امام وټاکل شـو . چی داهم پـه ۱۸۳٤م کی په شهادت ورسیده. له دی نه وروسته امام شامل (۱۷۹۷م تر ۱۸۷۱م) دجهاد دامام په توګه وټاکل شو. امام شامل او دهغه مجاهدینو د روسانو په خلاف سخت جهاد وکـړ. چی په پای کی په ۱۸۵۹م کال په سختو شرایطو کی چی هیڅوك هم ورسره پاتي نشول په وسله ایښودلو باندي مجبوره شو. اوپه ۱۸٦۹م کی دحج دعبادت دا داو پاره عربستان ته ولاړ چی هلته یې دعربستان دحکومت له خوا دیوه شاهي میلمه په توګه استقبال وشو، او وروسته هلته پاتي شو.

په ۱۸۷۱م کال کی په مدینه منوره کی دغه ستر مجاهد دخپل حبیب په ښارکی سترګي له فاني دنیا څخه پټي کړي. (انا لله ...)

چیچنیا په ۱۸۵۹م کال کی د روسي برخه وګرزوله شوه، که څه هم جهادي فعالیتونو تر۱۸۹۵ م کال پوري په څه ناڅه بڼه باندي دوام درلود. په ۱۹۰۵م کی مسلمانانو یوځلي بیا جهادي فعالیتونه پیل کړل خو ډیر ژر وځپل شول. دنومبر په ۲۰ ،۱۹۱۷م کی شمالي قفقاز دخپلې ازادۍ اعلان وکړ ، خو دغه آزادي هم تر ډیره وخته پوري پاتي نه شوه اوپه ۱۹۲۱م کی دیو شمیر جهادي مشرانو دخیانت له کبله دآزادۍ مبارزه ناکامه شوه.

په دسامبر ، ۱۹۳٦م کال کی شوروي اتحاد «انګوش» له چیچن سره یوځای کـړ اوپه شوروي اتحاد کی دننه یې دخپلواکه جمهوریت په توګه د «چیچن انګوشیا » په نوم دغه جمهوریت یاد کړ. په ۱۹٤۲م کال کی کله چی دآلمان فوځونه د« قاف» دغرونو لمنې ته ورسیدل، نو ددغه ځای خلکو دخپلې آزادۍ لپاره له المانیانو سره بشپړه مرسته وکړه ، خوله بده مرغه آلمانیان ناکامه شول اوروسانو په سلهاو زره دچیچن اوسیدونکي له دغه ځایه دنځنی آسیاته تبعید کړل. چی ډیر خلك په لاری له لوږی ، تندی ، سـرو اوبیماریو له کبله هلاك شول.

په ۱۹۵۷م کال کی دغو جلاوطنه چیچنیانوته بیرته خپل هیوادته د راتلو اجازه ورکړ شوه.

په افغانستان کی دشوروي اتحاد له ماتی نه وروسته ، کله چی دغه لویه امپراطوری مخ په ړنګیدو شوه ، چیچنیا له ټولو نه لومړی جمهوریت وو چی دنوامبر په لومړی نیټه ۱۹۹۱م کال کی یې خپله خپلواکي او آزادي اعلان کړه، دآزادۍ اوخپلواکي دغه اعلان په ټوله چیچنیا کی د خوښۍ اوبیداری احساسات راوپارول. اوپه پرله پسې توګه څو میاشتې د آزادۍ په ملاتړ باندي غونډي دائریدلي اودهیواد په سرکونو اولویو لاروکي دذکر محفلونه جوړیدل. د الله «جل جلاله» ذکر په اعلانیه توګه په ډیره مینه اوشوق سره کیده ، دهیواد دیني عالمانو، داسلامي تصوف مشرانو اوددوی پیروانو په ګروزني کی دکمونیستانو مرکزي دفتر په ذکري دلو باندي محاصره کړ. لمونځونه به کیدل، دعا ګاني به کیدلی ، صدقي اوخیراتونه به ویشل کیدل. د ذکرونو اوټولنیزو دعا ګانو دغه محفلونه په ټول ښارکي خپاره شول او حتی د ګروزني په هوایي میدان کی هم دذکر غونډي جوړي کړای شوې. په دي توګه دآزادي تحریك ډیر ژر دکامیابي پړاوته ورسیده ، دګورباچوف حکومت یوځلي دفوځي یرغل اراده وکړه خو د چیچن دمسلمانانو دآزادي دکلکو احساساتو له کبله چی دسختي دوام داري جګړي امکانات یې محسوس کړ، له دغه اقدام څخه بیرته وګرزیده، اوپه دي توګه د«چیچن داچکاریه جمهوریت» رامنځ ته شـو چی دروسي هوایي ځواك پخواني جنرال دودایوف یې په اتفاق سره ددغه جمهوریت دجمهور رئیس په توګه وټاکل، او هغه په قرآن کریم باندي دقسم په اخستلو سره دنوی اسلامي دولت بنسټ کېښود.

دودایوف په ټول هیوادکي اسلامي شریعت اعلان کړ او دهیواد داساسي قانون له مخي یې دحکومت دچلولو دپاره شورایي نظام رامینځ ته کړ. ددي دپاره چی دهیواد ۸۹٪ نفوس مسلمانان تشکیلوي اسلام یې دهیواد رسمي دین وګرزاوو. جهاد یې ددولت رسمي پالیسي وټاکله. داساسي قانون له مخي ، چیرته چی دمسلمانانو موجودیت په خطر کی وي، د چیچنیا ددولت مسئولیت ده ، چی ددغه هیواد وسایل به دمسلمانانو دژغورلو اونجات دپاره په کار اچول کیږي او داکار یې په عمل کی خلکو ته وښوده، دبیلګي په توګه .

۱ - دوه کاله مخکي ، کله چی دد «بخازیه» مسلمانانو دجارجیا په خلاف د آزادۍ اعلان وکړ، په نتیجه کی یې سختي خونړی جګړي رامینځ ته شوي، دجارجیا دفوځونو مرسته د روسانو له خوا کیدله او دد «بخازیه» مسلمانان کمزوري شول، هغه وو چی دچیچن مجاهدینو یې مرستي ته وروداننګل اوپه دي توګه یې دبخازیه مسلمانان دجارجیا په مقابل کی برلاسي کړل چی اوس دد «سخومي» مشهوره بندرګاه چی له ترکي اونوری اروپا سره ددوی تماس پیدا کوي دمسلمانانو په لاس کی ده او هغه ددوی پلازمینه هم ده.

۲ - دد «نګورنوکرباغ» په سر دارمینیا او آذربایجان په جګړه کی د ارمینیا د عیسایانو مرسته روسانو او نورو عیسایي هیوادونو کوله چی دآذربایجان لس په سلو کی ځمکه یې ورڅخه ونیوله او د آذربایجان فوځ یې بې سیکه کړ. هلته هم دچیچن په سلګونو مجاهدین دمسلمانانو مرستي ته ورغلل او د اذربایجان له فوځ سره وږه په وږه جنګیدل.

۳ - په بوسنیا کی کله چی صربیانو په مسلمانانو باندي تیری پیل کړ، د چیچنیا جمهور رئیس جوهر دودایوف له خپل دبهرنیو چارو د وزیر شمس الدین یوسف سره « سرائیو » ته دمسلمانانو دملاتړ دپاره ورغلل اوله ځانه سره یې یوه الوتکه درمل او نور دارتیا وړ شیان یووړل.

دملګرو ملتونو فوځونو ددوی الوتکه ونیوله اودمسلمانانو دمرستی دپاره یې نه پریښودله، هغه وو چی د چیچن مشر اختار ورکړ که الوتکه مسلمانانو ته ورنکړی نو د چیچن مجاهدین به دهغی د آزادي دپاره راولیږي ، ددغه اختار په نتیجه کی دملګرو ملتونو فوځ الوتکه مسلمانانو ته ورخوشي کړه.

٤ - د چیچنیا پلازمینه ګروزني دقفقاز دمسلمانانو دپاره دیوه مرکز په حیثیت غوره کړی دي، هلته اوس دسیمي دمسلمانانو یو کې سازمان د « دکاکیشتر دغروالو خلکو اتحادیه» په نوم مینځ ته راغلی دی چی په سیمه کی دسیاسي اواقتصادي یووالي دپاره کار کوي، ددغه سازمان مشري دستر مجاهد امام شامل دکورنۍ غړی شاملي شامل کوي او عمومي منشي یې پوهاند مبارز مسلمان محی الدین دي، دغه تنظیم اوس دقفقاز په مختلفو سیمو کی څانګی لري .

د چیچنیا ددغه تنکی اسلامي جمهوریت دری کاله په پوره کیدو وو چی د روسي جمهور رئیس بوریس یالسین له افغانستان څخه زده کړی سبق هیر کړ اوپه دغه وړوکی ، خوبه ایماني لحاظ عظیم جمهوریت باندي یې له دریو خواوو په خپل ټول معاصر ځواك سـره یرغل وکـړ چی هر ډول الوتکو ، ټانکونو اوتوپچي ځواکـونو برخـه په کی اخستي وه ، روسانو غوښتل چی دغه دری کلن جمهوریت په دری ورځو کی دنړی له نقشي څخه محو کړي. خوهلته دلوی خدای «ج» اراده څه بل شان وه ، روسانو پـه دغه لومړي یرغل کی د دریو ورځو دجګړي په نتیجه کی دخپلو په زرهاو مړیو جسدونه دګروزني په سرکونو کی پرانه ولیدل. په سلګونو سوځول شویو ټانکونو دویرونکي هديري منظره جوړوله.

روسانو څوځلي له مجاهدینو سره د اوربند تړونونه لاسلیك کړل، خو هرځلي یې دتعهد دساتلو په ځای دیوی بلي جګړي دپاره تیاری نیولی او دیوه غیر متمدن ملت په توګه یې تړونونه تر پښو لاندي کړي دي او جګړه یې پیل کړي ده، خو هر ځلي له سختي ماتي او رسوایي سره مخامخ شوي دي.

روسانو دیوی بین المللی دسیسي په نتیجه کی دچیچنیا جمهور رئیس جوهر دودایوف شهید کړ، خو دمجاهدینو لوړ مورال اوایماني ځواك یې کمزوری نه کـړ، مجاهدینو سمدستي « سلیم خان اندربایوف» خپل مشر وټاکل چی دروسانو په مقابل کی یې د اسلامي جهاد لیکی نوری هم پیاوړی کړي . کله چی یالسین په انتخاباتو کی ددوهم ځلي دبریالیتوب نه وروسته یوځلي بیا د اور بند تړون تر پښو لاندي کـړ اودیوه غیر مهذب انسان په توګه یې په مجاهدینو باندي برغلونه پیل کړل داځلي یې بیا دګروزني ښار دخپلو سږو فوځونو په جسدونو باندي بد بویه کـړل، په سلګونو ټانکونه اوزغره وال موټر دمجاهدینو په لاسونو وڅه شول اوپه پای کی د روسیي دولت یوځلي بیا دجګړي بندولو ته مجبوره شو دمجاهدینو غوښتنو ته یې ځان تسلیم کړ داګست په میاشت ، ۱۹۹٦م کال کی دیالسین دامنیتي چارو سلاکار الګزندر لیبد د دیوه تړون له مخي دټولو روسي ځواکونو دایستلو اوپنځه کاله وروسته د چیچنیا په بشپړی آزادۍ باندي د خبرو کولو مسئله ومنله چی دا دمجاهدینو ستر بری دی .

د چیچنیا دمجاهدینو مشر سلیم خان اندربایوف په یوه مرکه کی دروسي فوځونو شمیره نژدې یوملیون ښودلی ده چی په نوبتي ډول یې دمجاهدینو په خلاف برخه اخیستله ، دغه فوځونه په نژدې لس زره ټانکونو او زغره وال موټرو او له سلو نه زیاتو الوتکو باندي سنبال وو چی په جګړه کی د مجاهدینو په خلاف بوخت وو، په دی برسیره له روسانو سره د نړیوال بانك برسیره د نړیوالو ډیرو هیوادونو اقتصادي مرسته هم روانه وه.

په داسي حال کی چی مجاهدین په مادي لحاظ ډیر کمزوري خو د ایمان په پیاوړي وسلي باندي مسلح ستر ځواك وکولای شو دغه مادي ځواك په ګونډو کـړي او له چیچنیا څخه یې وتلو ته مجبوره کړي.

سلیم خان اندربایوف په دغه اتلس میاشتني جګړه کی د روسي فوځونو دمړینی شمیره اتلس زره (۱۸،۰۰۰) ته ونښودله، په داسي حال کی چی دمجاهدینو دشهیدانو شمیره دوه زره اوپنځه سوه تنو ته رسیږي ، مجاهدینو نژدې دوه زره روسي فوځیان بندیان نیولي وو چی داانساني همدردۍ په اساس یې بیرته پریښي دي، خـو ددی برعکس روسانو د چیچنیا عام خلك له ځانه سره بندیان بیولي او سختي شکنجې او تعذیبونه ورکوي .

دچیچنیا په دغه نژدې دوه کلنه جګړه کی دملګرو ملتونو مؤسسي هیڅ رول نه دی لوبولی، نه یې روسان په دغو بشر ضد برغلونو باندي غندلي دي. نه یې دمعاهدو په ماتولو ورته بد ویلی دي او نه یې د چیچنیا د دری کلن جمهوریت د ساتنې اوژغورلو دپاره لکه دعراق په خلاف نړیوال ځواکونه لیږلي دي، نه یې دروسانو په خلاف اقتصادي بندیزونه لګولي دي بلکی اقتصادي مرسته یې ورسره کړي ده اونه یې دشمالي عراق په شاني چیچنیا له روسانو څخه خوندي سیمه اعلان کړي . ددی یواځي یوعلت کیدای شی هغه دا چی د چیچنیا خلك مسلمانان دي ، دوی دیوګرااین ، لیتوانیا او لتویا په شان عیسایان نه دي چی دلویدیځ او ملګرو ملتونو له ویری یې دآزادي احترام وشي ، اونه خو کویت دی چی داستعماري ځواکونو ګټې په خطر کی کیږي او ملګري ملتونه یې ساتنې ته ورودانګي .

دطالبانو اسلامی تحریك له...

وجـود نه لري ، په همدي اساس طالبان دتیروڅوارلس کلن جهاد احیا اوثمره ده، ددوي کامیابي داسلامي نړي په تیره بیا ددیني عالمانو لپاره سرلوړي ده، نوزه په مسئولیت سره وایم چی دطالبانو مقابل لوري مقهور ، مغلوب، منفور او مکلوب دي اودطالبانو په مقابل کی ددوي مقاومت یواځي داسلامي حکومت دجوړیدلو ځنډول اوروستي کول دي چی دا کار ستر جرم دي. ځکه دوي په اصل کی دجهاد په مقصد نه دي پوه ، هغوي ته داتلس لکه شهیدانو وینی ارزښت نه لري، خو اوس ددي وخت رارسیدلی دي چی نور بایـد داخلك ځـان پوه کـړي اودافغانستان پرمظلوم ملت دي نوري لوبي نه کوي ، نوردي ددي وطن ملي شتمني نه ضایع کوي. افغانانو اوس ددوي ناولي څیري پېژندلي دي، ملت په دي پوه شوي دي چی هغوي نه غواړي چی په افغانستان کی اسلامي حکومت جوړشي ددوي کار یوازي اویوازي دنورو پرخلاف پروپاګند او تومښونه پوري کول دي.

اوس الحمد الله چی دطالبانو اسلامي تحریك له نیمایي افغانستان څخه زیاته برخه پخپل کنټرول کی راوستلي ده اوپه دي سیمو کی یې خالص اسلامي شریعت نافذ کړي دي، نو کـه څـوك ددوي په وړاندي مشکلات پیداکوي، خداي «ج» به یې ذلیل اوشرمنده کړي لکه څنګه چی روسان او دهغوي غلامان خوار اوذلیل شول. لکه څنګه چی روسان له افغانستان څخه په وتلو مجبورشول ، دوي به هم دغه شان شرمنده کیږي.

پوښتنه : په تیره څه موده کی حزب اسلامي اودکابل اداري ترمنځ ائتلاف وشو په داسي حال کی چی دطالبانو اسلامي تحریك هر لوري ته داسلامي او ورورولي لاسونه غزولي دي، خوحزب ددي پرځاي چی دطالبانو له اسلامي تحریك سره یوځاي شي دربانی له ټش په نامه اداري سره یې ائتلاف وکړ، په دي اړه ستاسو تبصره څه ده؟

جواب: ددوي ائتلاف نه اسلامي اونه جمهوري بڼه لري بلکي دا داسلام اوافغانستان پرخلاف یو څرګند سازش دي، حکمتیار چی کله په دي پوه شو چی نوربي له افغانستان څخه دظلم اواستبداد لمن ټولیدو په حال کی ده نو دخپلي جګړه ساری بقا اوپاتي کیدو په غرض یې له رباني، سیاف سره ائتلاف وکړ، رباني ،سیاف هم دقدرت په تښه دحکمتیار دڅلورکلني جګړي قتل اوقتال هیر کړل اوپخپلو کی یې ائتلاف وکړ چی ددوي دغه ائتلاف به د شواهدو له مخي بقاونه لري اوډیر ژر به دړې وړې شي.

محترم مولانا صاحب دخپلي مرکي په پاي کی طالبانو او نورو افغانانو ته په خپل پیغام کی وویل: طالبانو ته لازمه ده چی تقوي، اخلاص ، اتباع الدین او دخداي«ج» په سپېڅلې لار روان واوسي، هغه کامیابي چی طالبانو حاصلي کړي دي اوبیا به یې په راتلونکي وخت کی حاصلي کړي داټول الهي نصرت وګڼي ځکه چی خودبیني اوالله داحسان فراموشي اوناکامي سبب ده.

عامو خلکو ته هم پکار ده چی دطالبانو پوره ملاتړ وکړي تر څودغه مقدس تحریك وکولای شي دخداي «ج» په نصرت په ټول افغانستان کی خالص اسلامي نظام نافذ کړي.

باطل ټل دپاره دحق په مقابل...

داتفاق اواتحاد په نتیجه کی رامینځ ته شوي دي ، او اوس دوی ټول متحداً اوپه یوه صف کی دطالبانو په مقابل کی یو شانته دریځ غوره کړي دي.

ای مسلمانانو: تاسی ته ګوری او یاهم تاسو دددې جهاد داتلس کلونه اوږدو کی ونه لیدل چی دغـه ډلي به په خپلو مینځونکي سره جنګیدلي اوهم به ئی په هر مجلس او جرګه کی یو بل ته ډیر رکیك کلمات استعمالول اوحتی کله به خبره دی ته ورسیده چی یودي بل بدي سابقي به یې سره رابرسیره کولی، خو سره ددې ټولو اختلافاتو کله چی دطالبانو اسلامي تحریك د رفع فساد لپاره ددوی او ددوی دالحادي اندیوالانو دمخ نیوی لپاره میدان ته راووت دا ټولي ډلي په یولاس اویو ځای ددوی مقابلي ته راووتلي.

په کابل کی دموجوده الحادونو او ائتلافونو په اړوند باید ووایم چی دغه دتعجب خبره ده چی ولي دجهاد په دي څوارلس کلونوکي چی مایه وار وار ددی ډلو په مینځ کښي د الحاد راوستلو هڅه کړي ده خو هلته کله هم حسین احمد او راحت ګل پدی لپار کښي کوم اقدام ندی کړی اونه ئي کوم کردار ادا کړیدي، او هم هیڅ ځله ددی ډلو په مینځ کښي په هغـه وخت کی دوی دااتحاد غوښتونکي نه وه بلکې یو بې طرفه دریځ ئي ځانونه غوره کړي وه.

اوبل هم دتعجب ځای دادی چی دا ډلي نه خپل منځي اختلافات اونه هم دخپلو باداراتو اختلافات په نظر کی نیسي ، دمثال په توګه سیاف چی په ټولو مجلسو اوغونډو کی په ایران دیو غیر مسلم هیواد حکم کاوه اوهم همیشه ئي رشید دوستم کمونست اوملحد بللی دی ، نو څرنګه دربانی سره چی دایران متحد او دګلبدین سره چی درشید دوستم ملګری دی په یوه صف کی درېږي

باقي په ٤ مخ

خدمات دینی واجتماعي علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعه، روحانیت کشور محافظین وسپاهیان سرحدات جغرافیایی ونظریاتی کشور اند

قلمه جوادی

صلح نامه ثی پندی (۸) اگست ۱۹۱۹) از اراده ملی الهام نگرفته بود

در سطور گذشته گفته شد که اعلان متارکه جنگ با انگلیس یك امر مختص به ارادهٔ ونظر شخصی شاه بود که ملت باآن موافق نبود وزعماء، ومسئولین ملی ودولتی جبهات جهاد به آن مخالفت نشان دادند. اما پس از اعلان متارکه جنگ با قوای انگریز عساکر دولتی از مقاومت وجنگ دست کشیدند، ومردم مجاهد سرحدات آزاد افغانی به جهاد خویش علیه قوای استعمارگر انگریزی ادامه دادند.

در مورد این مقاومت مردم مجاهد سرحدی غبار مینوسد که :« در ماه جولای فشار مردم در سرحدات پکتیا آنقدر شدید شد که دولت انگلیس مجبور گردید(۱٦)کندك عسکر در تل متمرکز سازد. معهذا انگلیسها تازمان عقد قرار داد مصالحه با افغانستان قادر نگردیدند که قلعه های نظامی از دست رفته خود را از تصرف مردمان سرحد بیرون کند.» وانگلیسها بتدریج بعداز عقد صلح نامه بین کابل وانگلیسها به استرداد قلعه های مُهم جنگی که در اثر جنگ از دست داده بودند مؤفق گردیدند.

مردم مجاهد سرحدی به تنهای خود قادر نبودند که به حفاظت آن قلعه ها تامدت مدیدی ادامه بدهند.

بعدازٌ متارکه ننګین جنگ با انگلیس مردم مجاهد سرحدات آزاد از سال ۱۹۱۹م تاامضاء معاهده کابل غبار مینویسد که :« بیشتر از پنجصد حمله مردم سرحد علیه انگلیس بعمل امد ودر طی آن صدها نفر انگلیس کشته شد وپنجصد نفر انگلیس به گروگان افغانها رفت. انگلیسها با توپ وطیاره بر سر مردم میریخت و...» بعداز متارکه جنگ انگلیسها به خود شکل وقیافه غالبانه گرفته و کماکان به لهجه آمرانه مکاتیبی به حکومت افغانستان گسیل داشته خواهشات وشرایط را در ان عنوان داشتند که غبار آن خواهشات وشرایط را چنین نشاندهی کرده است: « سپاه افغانستان اقلاً ۲۰ میل از نزدیکترین عسکر انگلیس دور تر بروند، وهیچ جمعیتی از مردم افغانستان در نواحی عساکر انگلیسی اجتماع ننمایند، همچنین طیارات انگلیس در ماحول عسکر گاه های انگلیس در داخل خاك افغانستان پرواز های اکتشافی اجراء خواهد کردو...»

میان طرفین بعداز متارکه جنگ مکاتیب رد وبدل گردید تااینکه یك هیئات افغانی به ریاست علی احمد خان وزیر داخله، پسر خوشدل خان لوی نائب در ماه جولای عازم هند برتانیوي گردید گفته شده که وزارت خارجه وقت کابل با فرستادن علی احمد خان موافق نبودند. علی احمد نسبت خویشاوندی نزدیك که با مادرشاه داشت طرف اعتماد آن بود. هیئات در در ۲۵جولائی به راولپندی رسید وباطرف انگلیس داخل مذاکره شد. معاهده ننګین صلح ! درپنج ماده قرار ذیل بتاریخ ۸ اگست ۱۹۱۹م به امضاء طرفین رسید: « ماده اول – از روز امضاء شدن این معاهده درفیمابین طرفین مصالحه خواهد بود.

ماده دوم – در ماده دوم همه رعایت را که به امراء سابق از قبیل آوردن اسلحه ویادیگر اسباب حرب بداخل افغانستان از راه هندوستان قایل بودند یعنی امتیازات ترانزیتی را سلب نمود. ماده سوم – در ماده سوم پول باقی مانده امیر حبیب الله که از وجه عطیه سالانه در بانکهای هند برتانیوی بود وبه ملیونها کلدار میرسید ضبط اعلان شد وبه امیر جدید هیچ نوع عطیه قایل نشدند. ماده چهارم – در ماده چهارم دولت انگلیس تمایل مجدد خود را در برقراری دوستی سابقه مشروط بشرط که دولت افغانستان طبعاً مایل به چنین کاری باشد نشان داده وافزود که دولت افغانستان این امر را از کردار و رفتار خود ثابت نمایدو...

ماده پنجم – که به صراحت مؤید معاهدات ننګین وخائینانه دیورند ودین بوده وبه اثر آن استقلال کشور کماکان ناقص وناتمام ماند چنین حکم مینماید: دولت افغانستان سرحد بین هندوستان وافغانستان را که امیر مرحوم قبول نموده بودند، قبول مینماید!!!!»

که این سرحد تحمیلی در وقت عبدالرحمن خان برآن تحمیل گردید که بنام دیورند یاد میشود وازطرف حبیب الله با نماینده انگریز (دین) این معاهده تائید شد وبارسوم در عهد امان الله هم تائید گردید واین تائید آخری بود که قسمت اعظم خاك افغانستان که از آن جدا گردیده بود برای همیش جدا ماند.

غبار در مورد نتایج معاهده راولپندی چنین اظهار نظر میکند: « طبق این معاهده دولت انگلیس بشکل یك دولت غالب در عوض صلحیکه خود خواهان آن بود، شرایطی بر دولت افغانستان غالب تحمیل کرد، یعنی حق ترانزیتی مهمات جنگي او را از راه هند سلب کرد واز نظر سوق الجیشی کوه حاکمه « زمان چپر » متعلقه افغانستانرا در شمال دره خیبر با منبع آب آنطرف تورخم گرفت، ودر عوض یك پارچه زمین باریك ومحکوم وبی آب را به افغانستان گذاشت. یعنی انگلیس شکست نظامی خود را بایك فتح سیاسی تلافی کرد.»

این گفته میشهور است که: افغانها در میدان نبرد وجنگ همیشه پیروز وسرخ رو بوده اند ودر میدان سیاست ودیپلوماسی ناتوان شده وبزرگترین افتخارات بدست آورده دوران جنگ را از دست داده اند وبه ذلت وشکست فضیحت باری مواجه گردانیده شده اند، که نتایج متارکه ومصالحه جنگ سوم افغان – انگلیس هم از همین قماش بوده است.

اگر باطرز دید وقضاوت متذکره توافق نشان بدهیم وبپذیریم که چنین بوده. توجیه آن چنین خواهد بود که: در میدان نبرد وجنگ سروکار دشمن وجانب مقابل افغان باملت بوده ملت همیشه مخلصانه از عقاید دینی وافتخارات ملی خویش مردانه وار دفاع کرده وسر به هیچ دشمن وامید های مادی وسازش خم نکرده است ودر مقابل دشمن پیروز گردیده است.

اما در میدان سیاست ودیپلوماسی سروکار دشمن بازعامتهای سیاسی ودولت مردان حکومتی بوده وملت را در آن دسترسی نبوده یعنی اوشان در میدان مذاکره سیاسی با دشمن طرف نبوده اند، وزعامتهای سیاسی کشور افغان متأسفانه اکثراً ملی ومردمی نبووده وبرمنافع دینی وملی ملك وملت نیاندیشیده اند وهمیش شکار فریبهای دشمن گردیده اند وامیدی خاصی برآن بسته وپشت به ملت نموده اند. که متأسفانه اتکاء و اعتماد به دشمن وبه خصوص استعمار انگریزی در تبار وسلاله مرد بزرگ ملی کشور احمد شاه بابا به کثرت مشاهده گردیده است امان الله خان هم که درنتیجه یك کودتای درباری به قدرت رسیده بود از این خصوصیت ارثی میرا نبود.

بعدازمعاهده راولپندی مذاکرات منصوری دولتین در ۱۹۲۰م درهندوستان بعداز چهار ماه به نتیجه نرسید وهیئات کابل در اول اگست ۱۹۲۰م به کابل مراجعت نمود.

ودر جنوری ۱۹۲۱م هیئات انگلیس غرض مذاکره مجدد در ٥ جنوری سرحد افغانستانرا طی کرده وارد خاك افغانستان شد ومذاکرات طرفین تقریباً ۱۱ ماه طول کشید.

جامعه روحانیت الغاء «خط سرحدی دیورند» را میخواستند:

همزمان باورود هیئت انگلیس در ٥ جنوری ۱۹۲۱م به کابل، یك وفد بزرگ از نمایندگان مردم مجاهد سرحدات آزاد آنطرف خط دیورند در ۱۱ جنوری به کابل آمدند تا باشاه افغانستان در مورد مقدرات مناطق خود که تاهنوز با قوای انگریزی داخل جنگ بودند مذاکره نمایند. ٤۲۰ نفر از تمام اقوام: ورکزائی، اکاخیل، افریدي، ملك دین خیل، کوکی خیل، قنبرخیل، زخه خیل، کمرخیل، آدم خیل، سپائی، بابازائی مهمند وحلیم زائی وغیره وکالت ونمایندگی به دربار کابل داشتند، وکیل ونماینده ازکزائی ها ملاصاحب

قسمت هژده هم

عبدالخالق آخند پسر مجاهد وغازی مشهور ضد انگلیس (محمود آخند زاده) «رح» وکیل ونماینده اکاخیل های افریدی ملاصاحب سیداکبر ووکیل تمامی وزیرستان جناب شهزاده فضل الدین غازی پسر جناب ملاصاحب پیونده مرحوم قهرمان ومجاهد ضد انگریزی بود.

وفد متذکره از حکومت افغانستان الغاء، خط سرحدی دیورند وانضمام سرحدات را به افغانستان خواهان بودند وبرای جنگ دیگری با انگریز آماده گی همه سرحدات را نشان میداند.

در سطور گذشته یاد آور شدیم که جامعه روحانیت وعلماء، کشور محافظین سرحدات جغرافیائی ونظریاتی کشور میباشند وروی احساس همین مسئولیت خطیر دینی ووطنی خویش جامعه روحانیت وعلماء، کشور مخالفت خود را در عهد زمامداری امیر عبدالرحمن با خط دیورند که ناقض تمامیت ارضی وحدود مسلم جغرافیائی تاریخی کشور بود واز طرف انگریزها بر امیر موصوف تحمیل وقبول گردید نشان دادند وجناب ملاپیونده مشهور وغازی بزرگ آنطرف سرحد دیورند وجناب مجاهد عزیز القدر جامعه روحانیت اینطرف سرحد دیورند(اخندزاده صاحب، صاحب هده) به کابل آمدند وامیر را ازمخالفت خویش ومردم مجاهد افغان با خط تحمیلی دیورند آگاهانیدند وسالهای سال با استعمار انگریزی به جهاد های مسلحانه خویش ادامه دادند، تااینکه در عهد امانی در جریان جنگ سوم افغان –انگلیس مجاهدین عملاً خط دیورند را شکسته وبرهم ودر هم کردند وروی بطرف قلب دشمن انگریزی نمودند وعملاً وحدت ارضی وجغرافیائی افغانستانرا بدست آوردند، که متأسفانه این پیروزی بزرگ که درنتیجه آن افغانها به تمامیت ارضی ووطنی واکمال استقلال خویش رسیده بودند وهیچ مانع محسوس در سرراه این هدف مشاهده نمیگردید، در نتیجه متارکه ومصالحه خائنانه ۸ اگست ۱۹۱۹م راولپندی برای همیش از دست رفت وکشور ناقص الاستقلال باقی ماند.

نماینده گان مجاهدین سرحدات آزاد که از توافق دولت افغان با انگلیسها بر سره خط سرحدی دیورند» شدیداً آزاده ودل شکسته گردیده بودند، آزرده گی وناامیدی آنها وقتی شدت بیشتر اختیار کرد که شاه به مشوره بعضی از حلقه های متنفذ در باراز ملاقات با اوشان خود داری کرد وچنین پنداشت که ملاقات با این قهرمانان ملی وضد انگریزی باعث آزاده گی طرف انگریز

رهبران جامعه روحانیت اهمیت وارزش حیاتی مردم سرحدات آزاد را به امان الله خان گوش زد نمودند:

حضرات شمس المشایخ ونور المشایخ «رح» چون به رول وحیثیت مردم مجاهد سرحدات آزاد در تمامی جنگهای آزادی وخصوصاً جنگ سوم افغان – انگلیس به چشم نهایت قدر واحترام میدیدند وهمکاری وهم نوائی اوشانرا با ملت ودولت افغانستان حیاتی میپنداشتند وهیچ گاه راضی نبودند که اوشان از بی اعتنائی حکومت افغان نسبت به خود مزید آزرده خاطر گردند وازاین حالت انگلیس مکار به نفع خود استفاده نماید لذا به امان الله خان عواقب بی توجهی اش را نسبت به وفد معتبر ومقتدرمجاهدین سرحدات آزاد گوش زد نمودند که غبار به نقل از دوسیه اسناد جناب حضرت شمس المشایخ «رح» که دراختیار فرزند شان جناب محمد معصوم مجددی پدر جناب حضرت صاحب صبغت اللهـ مجددی قرار داشت متن نامه جنابان حضرت شمس المشایخ ونورالمشایخ «رح» را به امان الله خان چنین بیان میدارد: « یکی از مجاهدین مشهور افغانی فضل محمد صاحب مجددي که مرد اگاه به سیاست داخلی بود، دراین مورد نامه ذیل را بنوشت وبه پادشاه کشور بفرستاد »:

نامه حضرات مجددی به امان الله خان

« عرض داشت داعیان صمیمی اینکه چند فقره به خیال وفکر ناقص حقیران واجب العرض آمده به تسطیر آن پرداخته شد چون محض خیر خواهی وخالی از اغراض شخصیست امید بشرف ملاحظه پادشاه اسلام پناه برسد وبه نظر تدقیق وغور مطالعه فرمایند: موسی خان مسعودی که پسر عم موسی خان غازیست ودر اعتبار قومی دوم موسی خان گفته میشود بلکی دست وبازو وزبان موسی خان است وتمامی اقوام مسعود منتظر واپس رفتن او میباشند، واز منازل بعیده بعزم شرفیابی حضور پادشاه اسلام آمده وبا امید واری که مطالب خود را به عرض برساند، اما مدت یکماه بلکه زیاده تر گذرانید واکنون از حضور ارجمند محترم سپه سالار صاحب غازی مرخص شده بغایت ناامیدی ودلسردی میرود، داعی نوازاگر با این قسم برود وبه حضور والامشرف نشود ودلجوی ومهربانی نه بیند به مجرد رسیدن او جمعیت غازیان مسعود متفرق بلکه اکثریه با الکفار ملحق خواهند شد، وعلاقه مردم وزیر ومسعود یکقلم میگسلد وکفار اشرارخذ لهم الله وقت را غنیمت دانسته ریشه دوانیهای خود را دربین اقوام به دسایس شیطانی جاری خواهند کردند وتدارك آن در ثانی ممکن نخواهد بود وحال بذریعه همین موسی خان که محض به حضور برسد وزبانی مهربانیهای پادشاهی را مشاهده کند وفی الجمله امیدواری برایش داده شود یکسال دیگر همین بازار جهاد وقتال این قوم با دشمنان دین باقی خواهد ماند ودشمن دین کامیاب نخواهد شد انشاء الله تعالی، شریعت پروردولت پاینده باد وطالعت فرخنده باد. فضل محمد مجددی، الخاطی الضعیف فضل عمر مجددي.»

حسب گفته غبار در این نامه حضرات مجددی عنوانی امان الله خان سه فقره مفصل دیگر نیز درج است:

«یکي: تحذیر از اعتماد بدوستی دشمن، وحفظ اتحاد ملت در برابر دشمن خارجي که سدآهنین وقلعه متین حفظ کشور است، دوم: راجع به استمالت ودلجوی اقوام سرحدات آزاد که به مثابه دیوار واستحکام مملکت میباشند: سوم: در مورد مهاجرین مسعود که در لوگر آمده اند باید برایشان از اراضی دولت درمیدان، وردك وغزنی زمین داده شودو ....» غبارمینویسد: «چنین معلوم میشود که این معروضات شمس المشایخ جائی نگرفته است که او مجبور شد نامه دیگری به شخص که امور سرحدات ازاد با او تعلق دارد فقط باعنوان « ارجمند محترما » نوشته وبردن موسی خان مسعودی را به حضور شاه بعرض مذاکره شفاهی وباز وداع نمودن، توصیه وتاکید کرده است. ولی این توصیه وتاکید نیز مسموع ومنظور نیفتاده است.»

تاخیل خویونه کول

ملا اسدالله حنیفی

دلته سکروټې اوریدی تاخیل خـــویونه کـول
سری سری گولی راتوئیدی تاخیل خویونه کـول
دښاپیرو حرم ته اوس لاهـــم دودونه خیـــژی
چی دگل پاڼی سوزیدی تاخیل خویونـه گـــول
بلبلان مړه شول دتوتیانو پښې بې مـاتې کړلی
چی ګندوپی شهید پدی تاخیــــل خویونـه کـول
چی شاه زلمی موله اسلام څخه لوگی لوگی شـول
چی تاوگی موکوندیدی تاخــــپل خـویونه کول
چی هرو روسانو رانه وران جنت نظیر وطـن کړ
چی مو جونګړی ورانیدي تاخیل خویونه کــــول
چی دستی غرونه اودری موشوی په وینو خروب
چی په ویالو کښې بهیدی تاخیل خـــویونه کول
چی مو دمینډو ارمانونه خاوری خـــاوری شوله
چی په زلمیو ژړیدی تاخپـــــــل خویونـــه کول
چی هره ورځ‌به نوی نوی ویـــر ماتـم جوړیده
چی پیرخانی موړیدی تاخیل خویونــــه کـــول
چی څرخی پله کښی عذابونه دول دول کیــــدل
چی ترینه غوټې شوکیدی تاخیل خویونه کـــول
چی پتیــــانو دپلارقبــــرته پــــه کړیکو ژړل
چی تر آسمانه لوریدی تاخیل خویــــونه کـــول
چی «حنیفی » نه غیرگی غیرگی جنازی راتللی
چی به په شپه کښې شخیدی تاخیل خویونه کول

آرمـــان

همیشه این یکی ارمان کنم مـــن
که جان برفاطمه قربان کـنم مـــن
زفیض حّـب آلش بشنـــوید این
که دل را تازه چونَ بستان کنم من

د آدب ملغلرې

مرامحبوب آن محبوب محـــبوب
مرامرغوب آن مرغوب مرغـــوب
رضای اوتقاضــــــای نبـــی بود
مرامطلوب آن مطلـــوب مطـلوب
به خوش گویي مماثل باشکـر شو
به خوش روئی مشابه باســـحر شو
دگر پندانیکه تیـــــغ هــر بلارا
به پیش هریکی انســــان سپر شو
برای نفس کارای یــــار کـــردی
نه دور از راه مردم خــــار کردی
نکردی هیچ کار ای مردکـــــاری
اگر این کار کـــردی کـار کردی

اتل شهیدته

عبدالحنان = همت

شهیده تا د خپل اسلام په خاطر
ډیر کړاوُنه او دردونـه تیـر کړل
دخپل ملـت د سـوکالی لپاره
تا ډیر ربړونـه، تاړاکـونه تیـر کړل
تا د کلك هوډ او د وجدان له مخی
دستمگرو تـور قصرونه ړنـگ کـړل
تا د هیـواد پرهـکو غـرونو باندی
داسلام سپین سپین بیرغونه دنـگ کړل
ستا د سرو وینـو انعکاس وموتره
دغرب له لوری ښین اسـمان راښـیی
ستاقربـانی او ستـا ایثـار شهیده
په وینو سور ستــا زنخدان راښیــی
ستادځوانی په بڼ کـښی اور ولـگید
هاستا دهیـلو غـوټی سراوی شولی
د انـقلاب د راوستو پـه بـدل
ستا د ژوندون جونګړی شاړی شـولی
تا تـوری شـپی پـه مخه واخیـستلی
په خپلـو وینو دی دیوی بلـی کـړی
د فراسـت او د عـرفـان لـه مـخی
تا د دښمن تپولی نخـری شلی کـړی
ستا د پـرون وینـی لا وچـی نـدی
ستا جهادونـه لا تیرشـوی نــدی
تاچـی لــه روس سره دغـر وهلـه
ستاخدمتونه لاهیــر شـوی نــدی
خیر که شهید شوی اوتوته تپوته شـوی
خو ددښــمن ته دی سرخم نـکړلو
کـه دی واړه یتیـمان وژړیـدل
په مخ روان وی هیڅ دی غم نـه کـړلو
گرانه شهیـده تـه دوباړ نیـه شـوی
زمـا هـمت د افتخار نبـه شـوی

ادبی توته :

هغه هر چاته پـــه کـــرکه گـــوری

ابو امان

دهغـه سـترگی تن بیـا له اوښکو ډکی وی اوچی هر چاته به بي گـتل لکه چی د زوی قـاتل بي وی ، داسی به بي سـترگی پکی سختی کری چی له سرنه ترپـو پوری به بي ویسته په ویسته چان کر اوبیا به بي له حانه سره په ژرغوني آواز وویل: هو! دا انسان دی دا به هغه انسـان وی چی زما دوه زامن بي په حوانی کی د تورو خاورو میلمانه کړل اوزه بي دهغوی دغم په سرولمبو کی وسوزولم.

داحمد کاکا پوزوی د روسانو په مقابل کی په یوه مخامخ جگړه کی شهید شو، خو هغه وخت دده په وجود دومره قوت و چی دغـه دراانده غم ته مټ ورکـړی او ځـان ته په دی پکی تسلی ورکړی چی څه بابا زه هم دشهید پلار شـوم او مـسانه به هم خلك د زوی دشهادت مبارکی راکوي. بله دا چی شکر دی دغـــه یل زوی خـــو می ژوندی دی. دشهید گونده به هغه ته په نکاح کرم او کله کله به په جهـاد کی هم برخـه اخلي اوزه به دجهاد له برکتونو څخه نه بي برخي کیږم.

وسان له وطن څخه ووتل: داخلی کمونستان راوپرزیدل. په وطن کی دجـهـادی قـوتونو حککومت جوړ شو او مهاجر هیوادوال په مینه خپلو کوروتو ته په ستنیدو شول. هره ورځ به لـهـ غټ کـاروانونه دوطن غـیږي ته داخلـیدل اوپه دی توگـه دافـغانانو د ژوند غوټی په غوړیدو شوي.

احمـد کـاکـا هم له خپل زوی، دهغـه له میرمنی دوولمسانو سره خپل کلی ته ولاړ په ډیره مینه بي خپلـه ورانه جونګړه بیا اباده کړه او ارام ژوند بي پیکی پیل کړ. خو ډیری شـپی لانه وی وتلی چی دچوکی دمـینی جګړی پیل شـوی اوپه وطن کی بیو ځل بیا دوینو ویالی روانی شوی.

احمـد کـاکـا چی یه کله له کوره ووت نو دکور غیږونه به بي وبل تر ځو دبماریو په وخت له کـورونه ونه وځی، چیـری نه چی دگولیـو کومـه پارچه پری برابره شي. هغه بله ورځ چی دي او زوی بي په کرونده کي په کار بوخت و ناڅاپه یوه الوتکه رابنګاره شوه او تولـه سیمه بي په لوگیو کی پټه کړه. چی دود او لوگی په پراخـه فضـا کی تیت شول، نو احمد کاکا خپل زوی په وینو کی پروت ولیـد چی دده په ځنگ کی رغـړی او ورروسـتی سلگی بي دي، اوس چی احمـد کاکا هر چاته گوری دقاتل گومان پری کوی اوله انـسـان ځـخـه بي کـرکـه کـیـږي.

مولوی عبدالله ننگرهاری

دتورزن شیخ سازشونه اوفتواگانی

په تېرى له يوهو اوحق پرستو مفتیانو سره سره داسی فتوی پلرونکی او فتوی ورکوونکی هم شـته چی داین الوقت او ابن المال لقب وربانډی صادق کیدای شي، چی کله کله بي دخپلو شخصي او دنیوی غرضونو لپاره خپلی فتواگانی ردوبدل کړی دي.

عملی منافق خوپه علامو معلومیږي چی «کله خبری کوي دروغ وائي، چی ژمنه کوی هغـه ماتوي، اوکله چی امین وگرځول شی خیانت کوي» او زمون خلکو ته دتور بته اوید پیژندل دافغانستان له وروستیو اتلس کلنو واقعاتو نه هم ښکاره څرګندیدای شي. زه غـوارم چی دڅرګندونی په لړ کی دیوه شیخ لنده تاریخچه اوهغه دفتواگانو وزن بیان کړم:

ښکاره خبره ده چی روسانو او دهغوی گوداگیانو هیڅکله په ریا ورځ پیژندل شوی مجاهد له خپل زندان څخه نه دی خوشی کړی لیکن دببرك کارمل له کیمنانسو سره سم دازهر په بوشیخ اختر شو چی فورا ورته له جیل څخه خلاصون نصیب شو اودا لا څه چی شیخ صاحب په هغه بي تیرو او بي اغزو لاری (دتورخم په سمه لاره) پاکستان ته هم په امن سره راورسید چی متعهد لاحّهٔ کوی ادنی مجاهد یلکی پیژندل شوی مسلمان هم بي قیدوشرطه په دغه مستقیم خط باندی نه شو راتلای لیکن څنګو گومان کاوه چی کیدای شی څه ده بي اچولی وی څکه چی تورزنان کله کله چشم بندی هم کوی خو په پیښور کی بي لا دژوند ډیری شپی نه وی تیری شوی چی دیو طلائی چانس! څخه په استفادی بي بو جهادی گوند جوړ کړ چی وروسته خلکو د دوکان په نامه نو ماوه ځکه چی نوموړی تنظیم داستفادی اوګټي په حیث له مغازی سره ورته و، شیخ تورزن په دی کارسره دعربی بهایانو توجه ځان ته راواړوله له اوداځکه چی شیخ صاحب له مخکي نه په زیر کشـب، چالاکی او حیله گری باندی شهرت درلود.

لنډه داچی دگوند له مشرکیدو سره جوخت، دیبار غټ اوخبری ئی غښي شروع کړي. کله چی به جوش کی شو نو دفتوی په ترڅ کی به بي فرمایل چی «خارجي غیر مسلم که په افغانستان کی پښه پدی نوگویا زما په سینه ئی پدي!» خو نتیجه داشوه چی ده له خارجیانو سره داسی اړیکی پیدا کړی چی ورته غته وظیفه وسپارل شوه. یوه ورځ چی دببی بی سی خبـــریال ورته په دی هکله توضیحــات وغـوښتل، ده وویل: خلك سترگی اوغوږونه لری پخپله دی قضاوت وکړی. « لیکن دی ته بي سوچ ونه کړ چی خلك دخپلو سترگو اوغوږونو په قضاوت شیخ صاحب ته دشك په نظر گوری، داځکه چی دهجرت له پیل څخه ترپایه پوری اودکابل دواکداری دشروع نه تر اوسه پوری ، بي هر وخت داتحاد په نسبت شقاق اواختلاف ته ډیر خدمت کړی دی.

اودکفر له زندان څخه دببرك وخت په کی خلاصیدل اوپه سمه لاره پاکستان ته راتګ اوبیا دافغانستان دیخوانی لاس پوځی کمونست «حفیظ الله» کورنی ته پاکستان کی ځای ورکول اوهغوی ته دبهر نه دتلو او دتحصیل زمینه برابرول هم دده په حق کی دخلکو شکونه زیات کـړی دي. اوکله چی دکابل په ائتلافی اداره کی شامل شو نو بیاله مخکینی پلان سره سم داسلام آباد غونډی ته حاضرنه شو: او بیا د جلال آباد دغونډی څخه په ډیر فراست ډیر زر ووت، داځکه چی دده نه به الهام کـیده چی په داسی وخت کی چی مشران په خبرو مصروف دی نه کنولای شي چی درکو شوی پلان منظم اوپه تطبیق کړی ترڅو دافغانستان مسئله نوره هم ډیره پیچلی شي، دا اوداسی نورشواهد ددی سړی اصل څیره خلکوته څرګندولی شي.

شیخ تورزن له نورو فتواگانو سره سره داکثری فتواگانی هم ورکوی لکه چی یوه ورځ بي ډبي بي سی دراډیو په خوله حکمتیار صاحب باندی دروانی مریض حکم صادرکړ، اوبیا دشرعی فتوی په لگولو سره بي په باغی توب محکوم کـړ لیکن څه موده وروسته بي خپلی دواړه ډاکتری اوشرعی فتواگانی بیرته واخیستی او حکمتیار سره ئی دخپل وروری فتوی ورکړه:

هغه بله ورځ ئی دیوی بلی فتوی په صادرولو جوته کـړه چی « داسلام ساتونکی موږ اوزموږ محترم ورورا پروني مریض اوباغی) دي، موږ شرعاً جهاد کوو اوطالبان اسلامی برنامه نه لري.» موږ په انتظار وياسو چی څو ورځی وروسته به خپله فتوی منسوخ کړي لاکن داوس لپاره ویلای شو چی:

که اسلامی برنامه دشرعی نظام حاکمیت وی نوټول مخالفین هم منی چی داسلامی تحریك په سیمو کی دانظام حاکم دي. اوکه مطلب داوی چی اسلام په صحیح معنی سره اول په ځان اوبیا په نورو تطبیق شی نو داخو دطالبانو شعار دي. اوکه اسلام برنامه دی نه وایی چی په ملك کی امن راشي، کار اهل ته وسپارل شي اواجتماعي عدالت تأمین شي نودافغانستان دطالبانو دتحریك عمده هدف همدادي.

اوکـه مطلب ئی دا وی چی مظلوم له ظالم څخه او دمغصوب مال له غاصب څخه خلاص کړی شي نواسلامی تحریك خو دا ټول عملی کړي، اوبالاخره که داسلامی برنامی نه مطلب دفحشاو اومنکراتو له مینځه وړل او دراشده خلافت دجوړولو برنامـه وی نو اسلامی تحریك شپه او ورځ دهمدی هدف لپاره کوشش کوي.

او که دشیخ صاحب مطلب داوی چی اسلامی برنامه قتل، غلا، رشوت، فحشا، منکر، ظلم اوزیاتی کول وی نو موږ داسی برنامه په رسمیت نه پیژنو او نه دغه اسلامی برنامه ده

د ایران په مجوزه کنفرانس کی باید روس برخه ونه لری ځکه چی دافغانستان ستونزه دوی پیداکری ده

په کنفرانس کی طالبانو ته چی له نیمایي افغانستان څخه زیاته برخه په لاس کی لری بلنه نه ده ورکـړل شـوی

نور دی زموږ ګاونډیان په صدق اوخلوص نیت سره په افغانستان کی له لاس وهلو څخه لاس واخلی

(اصلاحی شوري)

د ۱۳۷۵ هـ ش کـال دسنبلی په یولسمه نیټه دیکشنبی په ورځ دافغانستان اصلاحی شوری د ډاکټر فاروق اعظم په مشری غونډه وکړه او ډاکټر په میاشت کی بی دایران له خوا دتجویز شوی کانفرانس په اړه غور اوبحث وکړ.

اصلاحی شوری دافغانستان دمسئلی دحل لپاره دایران له خوا دیو کنفرانس دجوړیدو پر موضوع چی دافغانستان ګاونډی هیوادونه روس، پاکستان ، تاجکستان ، ازبکستان ، ایران او دافغانستان حکومت به پکی برخه اخلی هر اړخیز بحث وکړ، دوی وویل دا معلومه نه ده چی دافغانستان یو بل ګاونډی هیواد چین ته هم دګډون بلنه ورکړل شوی ده او که نه.

دغی شوری دخپل بحث په پای کی یو پریکړه لیک صادر کړچی عمده ټکی بی دا دي: دافغانستان اصلاحی شوری دهر هغه ملي، سیمه ایز اونړیوال اقدام هرکلی کوی چی دافغانستان مسئله پری حل شی خو دبریالیتوب په منظور د تهران په مجوزه کنفرانس کی باید څو ټکی په پام کی ونیول شي:

په دی کنفرانس کی باید روس ګډون ونه لری داځکه یو داچی دافغانستان ستونزه همدی روسیي راپیدا کری ده بله داچی اوس روس دافغانستان ګاونډی نه دی نو د روس په ګډون دا مجلس دافغانستان دګاونډیو هیوادونودمجلس له نامه څخه وزی او نړیواله بڼه غوره کوی چی په دی صورت کی بیا دځینو نورو هیوادونو ګډون هم ضروری کیږی چی په دی توګه به مسئله نوره هم کړکیچنه شي.

په دی کنفرانس کی یوازی دکابل دحکومت ګډون کافی نه دی بلکی دکابل دحکومت په شمول دافغانستان ټول جنګی قوتونه باید برخه پکی واخلی په تیره بیا طالبان چی دافغانستان ترنیمایي ډیره برخه يې په کنترول کی ده ،اوکه نورو قوتونو ته دعوت نه ورکول کیږي، نو دکابل حکومت دی هم پکی برخه نه لري.

داصلاحی شوری مشوره داده چی نور دی زموږ، ګاونډیان په صدق او خلوص نیت سره په افغانستان کی له خپلو لاس وهنو څخه لاس واخلی ، زموږ دمظلوم ملت کړیدل نور بس دي، دوی دی خپلی ګټی دافغانستان په امن او استقرار کی ولټوی ځکه په افغانستان کی امن دټولو په ګټه دي.

اصلاحی شوری فیصله وکړه چی دشوری دغه فیصله به دملګرو ملتونو دسرمنشی او داسلامی کنفرانس دسرمنشی په ګډون د ګاونډیو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ته استول کیږي.

مونږ ته پکار د...

له غزنی څخه زموږ سیمه‌یال خبر راکوی چی دغه ولایت دشرعی محکمو دقاضیانو او د دولتی ارګانونو دمسئولینو په ګډون دتنظیمه رئیس محترم الحاج ملا محمد حسن اخند په مشری یوه غونډه وشوه.

غونډه دعظیم الشان قران دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسی دهغه ولایت دمرافعی رئیس محترم مولوی عبدالقادر خپله عالمانه وینا وارول‌ه اودمقدس جهاد هر اړخیزی شیګنی بی بیان کړی وی ویل: زه یقین لرم چی دطالبانو داسلامی تحریک جهاد چی دفسق اوفجور پر ضد بی پیل کړی دی ستر جهاد دي.

ده وویل: موږ اوتاسو ته پکار دی چی دبیت المال له مالونو سره خیانت ونه کړو، دخپل مظلوم او دردیدلی ملت خدمت وکړو اودهیواد تنګی تسل د بیوزلی او روږدی له ستر نعمت څخه برخمن کړو.

تر ده وروسته تنظیمه رئیس محترم الحاج ملامحمد حسن اخند خپله عالمانه وینا واوروله وی ویل: لوی خدای «ج» دمنګراتو دله منځه وړلو لپاره دطالبانو اسلامی تحریک را پاڅاوه چی نن دلوی خدای «ج» په مرسته دافغانستان پر زیاته برخه باندی مسلط دي. لوی خدای «ج» دا ډله اوس ازمولی چی دوی له خپل قدرت څخه څه ډول استفاده کوي، نو موږ ته پکار دی چی له خپل قدرت څخه ناوړه استفاده ونه کړو اوپر دغه هیوادکی د لوی خدای «ج» قانون نافذ کړو چی زموږ په لاس کی دی

باطل تل دپاره د حق په مقابل...

اوهم ګلبدین چی دایران دولت ئي داختطاف او قتل حکم ورکړی دهغه متحد ربانی سره یولاس کیږی اوبیا داچی ګلبدین دپاکستان متحد ځرنګه دربانی سره چی دهند پلوی اودوست دی یوځای کیږي.

وروڼو! مسلمانانو دلته ځیر شی چی دا ولی اودحه دپاره دوی ددی ټولو خپل منځی اختلافاتو څخه تیریږی اودطالبانو په مقابل کی یولاس اویو غږ کیږی دا ددی لپاره چی دانړولي ولي باورلری چی طالبان ددوی او ددوی دمتحدینو دفساد مخه نیسی اودوی سره چی دافجایع ئي ددی مظلوم ملت په مقابل کی کړیدی حساب اخلی ځرنګه چی دا ولی خپل اعمال وینی اوپه هغی نظر اچوی همدا ده چی ټول خپل اختلافات یو خواته کوی او دطالبانو په مقابل کی دخپلو یادارانو په مرسته مقابله کوي.

خو بلی خواته که په ځیر اودقت سره نظر واچوو یو واضح حقیقت بل زموږ مخی ته راڅرګندیږی اوهغه دادی چی خداوند همیشه دخپلو بندګانو په اعمالو اونیاتو ډیر ښه آګاه دی اوهمدا وجه ده چی خداوند دفاسدو فاجرو اومنافقو بندګانو اعمال اوباطنی خبث اوپلیدی ټولو خلکوته ښکاره کوی او هغوی به په ټولنه کی رسوا اوبی پته ګرزوی اودهغوی واقعی اواصلی څیری به رابرسیره کوي.

په پای کی دا خبره هم باید یاده کړم چی سیاف د اتحاد په مجلس کښی زما په غیاب کی ډیر کلوته مخکی یو ورانديز کړی و چی علماءداعیون ته بلکی دحامیونو په نامه باید یاد شی اوداموضوع ئي کوښی ته زما دسفر په وخت تصویب کړی وه خو کله چی زه راغلم ماورته وویل چی تاسی اخوانیان دعلماؤ وسره ولی دومره ضدیت لری چی په هغوی دتاسو هغه اصلی نوم هم پټه پیرزو کیږي چی په هغه یاد شی اوغواړی چی هغه نوم هم خپلو ځانونوته ورکړي.

په هرحال مسلمانانو وروڼو: په یقین سره تاسو ته وایم چی دهماغی ورځی څخه مادی فسقی اوکفری ډلو څخه علماو اومسلمانانو ته دلویو خطراتو پیش بینی کوله چی دا دی اوس ئي دسر په سترګو وینو اوننداره ئي کوو.

اوس نوباید په صراحت سره ووایم چی طالبان اکثراً عالم زادګان او ځینی بی شریف شبه صالح زاده ګان دي.

په جیلانیه دارالعلوم کی د طالبانو په ملاتړ غونډه وشوه

له جیلانیه دارالعلوم څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دجیلانیه دارالعلوم په انګړ کی یوه درنده غونډه جوړه شوه.

غونډه دعظیم الشان قرآن دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسی دجیلانیه دارالعلوم مهتمم محترم مولنا سید محمد صادق پخپله عالمانه وینا کی وویل: دینی عالمان باید دحنفی مذهب دخدمت او دطالبانو داسلامی تحریک ملاتړ ته مټ ورکړي.

ده وویل: ټول ځلکي علماء باید په یوه اتفاق په افغانستان کی داسلامی حکومت دقیام په لارکی دطالبانو داسلامی تحریک د رغنده هلو ځلو په لیکه روان شی. تر څو په هیواد کی دظلم اوفساد تغر ورټول اوهیوادته له دغه موجوده بحران څخه نجات ورکړل شي.

د ازري ولسوالي دمخالفو ...

ځواکونه دعلي شیرو دغره لوري ځوکي ته ورسیدل اودغه مهمه اوحاکمه نقطه يې په کنترول کي واخیستله.

خبریال زیاتوي چي په دې بریالیو عملیاتو کي مقابل لوري ته د سر دروند تاوان رسیدلي او زیاته اندازه سپکه او درنده وسله دطالبانو دځواکونو لاس ته ورغلي ده.

دمقابل لوري ماتي خوړلي قوماندانان او افراد سروبي ته په شاشوي او اوس دنوبو پر مختګونو لپاره خبري رواني دي هیله کیږي چي دتفاهم او خبرو له لاري مسئله حل شي اوپه دي توګه د زیاتو وینو توئیدلو مخه ونیوله شي.

زموږ خبریال دهجرت په خیمو کي د ازري د اوسیدونکو له قوله خبر راکوي چي دلوګر ولایت دحج او اوقافو مدیر محترم مولوي سیداګل حقاني پخپلو هڅو لپدنو کتنو کي چي په بله بیره کي يې دازري له علماو اومشرانو سره سرته رسولي هغوي داو ورکړي دي چي موږ به خپله پنځه سوه تنه تکړه ځوانان دطالبانو دملاتړ لپاره ازري ته ولیږو.

در ولسوالي انجیل ...

از والي محترم هرات تعداد کثیري ازعلماء و دانشمندان واهالي آن ولسوالي اشتراك ورزیده بودند، جلسه به تلاوت چند آیه از قرآن کریم آغاز ومتعاقباً جناب مولوي جلیل الله مولوي زاده وزیر سابقه معارف اداره ائتلافي خطابه عالمانه وپرمحتواي به حاضرین شنوانندند، خبر میګوید که جناب والي هرات هم در این جلسه خدمت حاضرین بیانیه عالمانه ومفیدي ایراد فرموده در قسمتي از بیانیه خود ګفتند: تحریك اسلامي طالبان باهیچکس دشمني شخصي وذاتي ندارد. تنها وتنها هدف تحریك پیاده کردن شریعت اسلامي در کشور میباشد.

جلسه با دوعائیه پیروزي تحریك اسلامي واقامه شریعت وامنیت در کشور خاتمه

دا به کوم کافر وي ...

خبره کیده دروغ دي

طالبان داسلامي امت لپاره یوه ستره سرمایه ده همدوي دي چي شرقي اوغربي کفر ورڅخه په ویره کښي لویدلي دي.

طالبان زموږ بچیان داسلام ددین سپاهیان اوهم دوي ته داسلامي نظام دپیاده کولو اونافذولو امید شته اودائي عملاً په خپلو تر کنترول لاندي سیموکښي خلکو ته ښوولي ده.

نو داسي خلکو (طالبانو) خلاف به کوم کافر دجهاد فتوي ورکوي.

حملات متعدد نیروهاي..

بي رحمانه اهالي ملکي بدرګه میشد که بنصرت خداوندي (جل جلاله) در هر نوبت به شکست شدید وفضیحت باري مواجه شده فراري ګشتند وتعدادي کثیري از لاشهاي کشته شده ګان خود را در میدان جنګ ګذاشتند.

روز شنبه ۱۳۷۵/٦/۱۷ نیروهاي ائتلافي بر سنګر هاي غرور آفرین تحریك اسلامي طالبان حملات شدیدی زمیني وهوایي را انجام دادند که در اولین وهله پیشرویهاي داشتند ودر حمله متقابله نیروهاي شجاع تحریك اسلامي به شکست شدیدی مواجه شده دها تن کشته ومجروح اوآنها در میدان جنګ به جاي ماند ویك فروند طیاره هلیکوپتر اداره ائتلافي که غرض انتقال مجروحین در خطوط مقدم جبهه در حال نشستن به زمین بود زیر آتش ثقیل نیروهاي تحریك اسلامي طالبان قرار ګرفته از بین برده شد.

خبر نګار ما می افزاید که در این جنګ نیروهاي دولتي چهار عراده تانك را هم از دست داده اند ودو دستګاه دوسیله زیو دشمن به غنیمت مجاهدین درآمده است.

د پکتیا د دیندارو خلکو هڅو...

کوچي ، محترم حاجي روزي خان نیازي ، محترم میرداد تڼي محترم عبدالحکیم لکڼوال، محترم ړنګ منګل ، محترم پاچا خان ځدران، محترم سپین پاچا ځدران، محترم عبدالظاهر ځدران ، محترم حاجي مدد احمدزي محترم حاجي حضرت احمدزي او محترم حاجي ناظم ځدران.

کندهار ته په رسیدو سره دسهار په یولس نیمو بجو یې دعالي شوري په میلمستون کي له امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد سره وکتل اوپه دي کتنه کي دعالي شوري سرپرست اوتنظیمه رئیس محترم ملامحمد حسن اخند، د اداري کمیسیون رئیس محترم ملا نورالدین ترابي، داکمالاتو دکمیسیون رئیس محترم مولوي باز محمد، دعالي شوري غړي محترم مولوي احسان الله احسان دعالي شوري غړي محترم حاجي ملا محمد صادق، دمخابراتو رئیس محترم حاجي ملا داد دخوست والي محترم حاجي سیدعبدالله آغا، دامارت مقام منشي محترم مولوي وکیل احمد متوکل او نور مسئولین حاضر وو.

وظیفه همه مسلمانها خصوصا افراد نظامی است که در وطن عزیز خودافغانستان براي تحقق یك نظام واقعا اسلامی کوشا باشند

خبرنګار ما از ولایت هرات خبر میدهد که در فرقه ۲۱ میدان هوایي شیندند ولایت هرات یك محفل بزرګی دایر ګردید.

این محفلي با شکوه باچند آیه از قرآن عظیم الشان آغاز ګردید وبعداً مسئولین بر اوضاع سیاسي ونظامي کشور روشني انداخته ګفتند وظیفه همه مسلمانان خصوصاً افراد نظامي است که در وطن عزیز افغانستان بخاطر یك نظام واقعاً اسلامي کوشا باشند ووظایفي که برایشان سپرده شده است به صورت احسن انجام دهند.

در آخر محفل به آن منصبداراتیکه وظیفه خود رابه صورت احسن اجرا نموده اند مکافات اعطا ګردید وترفیعات آنعده منصبداران اجراګردید که وقت قانوني اوشان پوره شده است.

محفل با بیانیه دوعائیه محترم مولوي محمد قاسم پایان یافت.

ژر به د رباني لاس پوڅي اداره ړنګه شي

ملامحمد عارف الله « یزداني »

افغانستان یو اسلامي لرغونی ، اتل اوپاشهامته هیواد دی. دتل لپاره ئي دښمن ته خوله ماتوونکی ځواب ورکړی دی. هر خارجي دهیواد چی افغانستان ته ئي بدی سترګی غړولی دی داسی ماتی سره مخامخ شویدی چی نه یوازی له افغانستان څخه بلکی له نړی څخه ئي دهغه تغر ورټول کړیدی اوسپر طاقتونه ئي په صفر طاقتونو بدل کړیدی.

همدارنګه روسانو چی ځان ئي لوی ابرقدرت باله له ټول نظامی ، سیاسی اواقتصادی توان سره ئي په افغانستان بی رحمانه یرغل وکړ چی دخدای پاك په مرسته دمجاهد ولس لخوا دا لوی ابرقدرت په وړوکی بی آبرو قدرت بدل شو او په بدل کښی روسیه ټوټی ټوټی شوه . مګر متأسفانه چی روس دا خپله ماتی هیره کړیده اوپوځل بیا دربانی لاسپوڅي اداری سره سیاسی، نظامی اواقتصادی مرستی کوی اوزموږ دملك کورنیوچارو کی لاسوهنه کوی.

نه یوازی روسیه بلکی ایران ،هندوستان اوځینی نور کفری دولتونه دربانی له تش په نامه اداری سره مرستی کوی. ،موږ ټولی خارجي مداخلی په افغانستان کی غندو اوټولو بهرنیو هیوادو څخه هیله کوو چی نور دکابل بی ثباته اداری سره خپلی هر ډول اړیکی وشلوی ځکه د کابل ائتلافی اداره شرعی ، ملی او بین المللی بنه نلری اوقانونی حکومت نه دی .

موږ دوطن ددیندارو بچیانو په توګه دطالبانو له اسلامی تحریک سره غوځ ملاتړ اعلانوو

(د امداد العلوم دمدرسی طالبان)

د درویش دجومات په امداد العلوم مدرسه کی دننګرهار ولایت دګوشتی طالبانو یوه درنده غونډه وکړه.

غونډه دعظیم الشان قرآن دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسی محترم مولوی قمرګل حقانی اوتر ده وروسته محترم میافضل محمد فضلی دهیواد دحالاتو په اړوند اوږدی اوګټوری ویناوی واورولی.

دوی پخپلو ویناوکی دطالبانو له اسلامی تحریك سره خپل غوځ ملاتړ اعلان کړ وی ویل: موږ دوطن ددیندارو بچیانو په توګه په هیواد کی دظلم اوفساد په له منځه وړلو کی دطالبانو داسلامی تحریك له رغنده هلو ځلو سره خپلی همکاری اعلانوو اوګانونه په دغه مقدس تحریك کی شریك بولو.

او تردی وروسته یو زیات شمیر طالبان دیته تیار شول چی دظلم اوفساد په له منځه وړلو کی ګرمو سنګرونو ته ولاړشی اوپه دی توګه عملاً ږښتی چی دوی په دی مقدسه لارکی دمالی قربانیو ترڅنګ دسرقربانی ته هم چمتو دی.

امیرالمؤمنین په میوند ولسوالي کي دیوه لوی جامع جومات د وداني منظوري ورکړه

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوي چي د میوند په ولسوالي کي د لمونځ کوونکو دمشکلاتو دحل په غرض دهغي ولسوالي په مرکز کي دامیرالمؤمنین له خوا دیوه لوي جامع جومات منظوري ورکړل شوي وه، په داسي حال کي چي دمیوند دولسوالي مسئول محترم سید عبدالکریم آغا او دولسوالي نور مسئولین حاضر وو ددغه جامع جومات دبنسټ ډبره کیښودله شوه او تمه ده چي دیر ژر به دجومات د وداني کار بشپړ شي.

هرڅوك چی مسلمان اوافغان ...

دطالبانو پر مرکزونو اوکلیوالی سیمو باندی سختی بمباری پیل کړی او یو لړ تعرضی عملیات یې هم تر سره کړل چی ددغو ناکامو عملیاتو په اړه دبی بی سی نماینده د اطلاعاتو او کلتور له رئیس محترم مولوی امیر خان متقی سره مرکه کړی ده چی داده د درندو لوستونکو مخی ته یې ږدو:

محترم مولوی امیر خان متقی د بی بی سی دنماینده د یوی پوښتنی په جواب کی وویل: داچی دوی په لویه پکتیا کی خپل اتلس کلن قوی مرکزونه له لاسه ورکړل نو پرمیدان ښار باندی یې تعرضی عملیات پیل اوتقریباً نهه ګلی یې په عامو خلکو باندی له الوتکو څخه ګولی واورولی چی یو زیات شمیر بی ګناه کلیوال یې په شهادت ورسول ، دوی څه ناڅه پرمختګ هم وکړ خو په مقابل کی داسلامی تحریك مجاهدینو په مقاومت لاس پوری کړ چی الحمد لله نه یوازی یې خپلی پخوانی سیمی بیرته ونیولی بلکی دبرج ستراتیژیکه پوسته یې هم تری ونیوه په نتیجه کی دوی ماتی وخوړه اویو اندازه زیات مالی اوځانی تاواتونه ورته ورسیدل.

دپخوانی پاچا محمد ظاهرشاه د رول په باب محترم امیرخان متقی دبلی پوښتنی په جواب کی وویل: اصلاً موږ د اسلامی نظام لپاره مبارزه کوو ، موږ له اشخاصو سره مخالفت نه لرو، هر څوك چی افغان وی اومسلمان وی هغه حق لری چی پخپله خاوره کی خدمت وکړی اوخپلی خاوری ته راشي، دا چی موږ له چاسره مخالفت نه لرو اوداسلامی نظام لپاره مبارزه کوو، نو که افغانان دخدمت لپاره افغانستان ته راځی موږ ورسره مخالفت نه لرو.

دبی بی سی د خبریال ددی پوښتنی په جواب کی چی محمد ظاهرشاه به دپاچا په توګه راځی او که کوم بل موقف به ولری ، پداسی حال کی چی ملامحمد عمر مجاهد د امیرالومنین په توګه ټاکل شوی دي، داس وویل: اصلاً تر اوسه پ دی ارتباط خبره نه ده شوي، زه فکر کوم دا له وخت نه مخکی خبره ده ، په افغانستان کی مشکلات ډیر زیات دی ، زه فکر کوم دافغانستان مشکلات هغه څوك بنه حل کولای شی چی دمشکلاتو دحل کولو لپاره عملاً کار کوي.

دکابل له ائتلافی اداري سره دخبرو کولو په اړه محترم مولوی امیرخان متقی وویل: دابه تاسو ته هم معلومه شوی وی کله چی دوی دسولی خبری کوی ، نوضرور یوه یا دوه ورځی وروسته دجګړی پروګرام لري، تیره ورځ یی دا خبره کړی وه چی موږ له طالبانو سره سوله کوو اوخبری ورسره کوو، خو تاسو ولیدل چی په تعقیب بی پرمیدان ښار باندی عملیات پیل او کلی یی بمباری کړل، په دی سر بیره د هیواد په نورو برخو کی هم شرارت ته لمن وهی ، نو دا ددوی دخولی خبری دی ، دایوه مکاره اداره ده اوهیڅکله دی ته حاضره نه ده چی له قدرت نه لاس واخلی، بله داچی له دوی سره خبری کومه نتیجه نه ورکوي، دالوسړی حل نه دی چی موږ له دوی سره خبری وکړو بلکی موږ له دوی سره بیا بیا خبری کړی اوپه خبرو ورسره ستړی شوی یو، خو دوی پخپلو وعدو باندی وفا نه ده کړي، دوی ملت ته امتحان ورکړی دی ، دوی له ملت سره خیانت کوي، دوی دملت ارزوګانی ته مټی ، اودوی دخدای دین ته ته تسلیمیږي، نو له همدی امله له دوی سره خبری دوخت ضیاع بولو ددوی دخولی خبری ددوی دخولی خبری بولو او دعمل په ډګر کی دتعمیل وړنه دي.

افغانستان ته دپاکستانی طالبانو د ورتګ د اوازو په باب چی دپاکستان له پولو څخه دپکتیا له لاری دطالبانو مرستی ته تللی دی محترم مولوی امیر خان متقی وویل: دا خبره حقیقت نه لری اونه به دی اړه له چا سره کوم شواهد شته .

دګډون بیه شپږ میاشتنی کالنی

پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

روشهاي ضد ونقیض دولت مردان اداره ائتلافي کابل

هرملك وکشوري در مسایل وقضایاي داخلي وخارجي خود روشها وسیاستهاي درپیش میګرند که البته مبناي اولي واساسي آن روشهاو سیاستها را دساتیر وقوانین اساسي آن کشور ها تشکیل میدهد که بر منافع علیاي ملي آن ها استوار بوده واز آن الهام میګرد.

هستند کشورهایکه برخلاف مأمول متذکره همه روشها وسیاستهاي ملي وبین المللي خود را موافق وبرابر بر خواسته ها ومنافع اجنبیها عیار، روان ودوان میسازند، واصلاً به ملت ومنافع علیاي کشور وملتهاي شان توجه نداشته وندارند ، زیرا: زعامتها وقیادتهاي سیاسي ودولتي این قماش کشورها روي وابستګی هاي ګوناګوني مذهبي ، فکري ، سیاسي و... که بیك طرف وجناح خارجي دارند ویا اصلاً مستقیم ویا غیر مستقیم توسط کدام نیرو وکشور خارجي به اریکه قدرت رسانیده میشوند که در هردو صورت ، خواسته وناخواسته منافع سیاسي ، اقتصادي ،نظامي و... طرف خارجي را برمنافع علیاي ملي خود مقدم ومرجع میشمارند.

اداره ائتلافي کابل که از یك طرف اصلاً تیوري ونقشه آن خارجي بوده ووجود عملي وفزیکي وبقاي آن هم به حمایه وکمك نظامي ، مالي وسیاسي خارجیها وابسته میباشد واز طرف دیګر هر یك از ګروهایکه از ترکیب آن ائتلاف به میان آورده شده است، رجهانات ووابستګي هاي به خصوصي فکري، سیاسي ومذهبي دارند، که به شکلي از اشکال ریشه هاي بیروني دارد.

که روي همان ګرایشها ووابستګي ها روشها وسیاستهاي داخلي وخارجي وبابه اصطلاح ملي وبین المللي خود را عیار وعملي مینمایند. که به این صورت اوشان تا حال قادرنشده تا یك روش وسیاست واحد را بسطح ملي وبین المللي در پیش ګیرند که ممثل وسخن ګوي سیاستهاي کشوري وملي بوده ومنافع علیاي دیني وملي کشور در آن مطمح نظر باشد.

روز مره مشاهده میګردد که دولت مردان اداره ائتلافي کابل در مواقف ګیري خود ها در قبال مسایل وجریانات داخلي ودر تقابل به سیاست خارجي کشور سیاستها وبرخورد هاي ضد ونقیض ودوګانه ئي را از خود میکنند وتاحال قادر نګردیده اند که پالیسي واحد ومرکزي را درقبال رویداد هاي متذکره متفقانه ومتحدانه به پیش ببرند.

اداره ائتلافي که از عمر تشکیل آن تقریباً چهار سال میګذرد تاحال موفق نګردیده ویا نخواسته که یك قانون ووثیقه اسلامي ملي که جابګزین قوانین واصولات رژیم الحادي کمونستي روسي ګرده‌تدوین وتنفیذ نماید.

اداره ائتلافي که اصلاً به فقدان یك قانون ودستورالعمل اساسي وملي که در روشني آن مواقف ګیریهاي ملي وبین المللي خود را واضح سازد ګرفتار میباشد که طبعاً در موجودیت این خلاء اساسي هر یك از جوانب ائتلاف از سلیقه هاي شخصي، ګروهي ، مذهبي وفکري خود کارګرفته وآنرا موجه واصولي میدانند.

در این اواخر حزب اسلامي رقیب سرسخت اداره ائتلافي را که بعداز قبول شکستهاي فضیحت باري در مقابل اداره کابل وسایر مخالفین به آن اداره یکجا ګردانیدند وپنداشتند که از این طریق به منافع! خود ها اګر دست رسي پیدا نمایند!؛ که این هم عملي وکاري نمي نماید.حکمتیار روي سلیقه شخصي وحزبي خود به اعلان روابط وضوابط حکومت! خود پرداخت چون به مذاق وروحیه فکري وسیاسي قدرت محوري ائتلاف (شوري نظار) که داراي اندیشه وفکر سیکولریستي میباشد موافق وبرابر نبود فوراً مورد تردید آن قرار ګرفته ونظر شخصي آقاي حکمتیار خوانده شد ومطبوعات وابسته به شوري نظار شدیداً حکمتیار را به باد انتقاد ومسخره ګرفتند . حکمتیار صاحب خم برآبرو نیاورده چون حسب معمول همیشګي خود که به جمع وخرج یك نظام شعاري ولفظي بدون مصداق ومحتواي خارجي وعملي معتقد بود ومیباشد وظیفه خود را در همین جاعملي وآخري پنداشته متعاقباً هدایت صادر فرمودند که دست کمونستها از وظایف حکومتي ګرفته شود! که این نظر واعلان حکمتیار هم جامه عملي به خود ګرفته نه میتوانست همان بود که از جانب دولت مردان اداره ائتلافي این اعلان حکمتیار چنین توجیه ګردیدکه : هدف از اعلان حکمتیار جلوګیري از آمدن متوقع کمونستهاي میباشد که در صورت یکجا شدن جنبش به اداره ائتلاف کابل معرفي خواهند شد، واداره ائتلافي به این توجیه خود چنین نشان داد که در اداره ائتلافي کمونستها اصلاً وجود ندارد!! واګر در آینده موجود ګردد آنهم از اندیوالان حکمتیار صاحب خواهد بود.

مسئله عمده واساسیکه عامل وسبب اختلاف جدي وقسماً آشتي ناپذیر میان اعضاء ائتلاف کابل ګردیده وراه حلي آن به چشم نمیخورد، موضوع احتمالي یکجا شدن جنبش با اداره کابل میباشد که رباني میکوشد افتخار ابتکار یکجا شدن آنرا باخود ازطریق چیلهاي مربوط شخص خود عملي نماید نه از طریق حکمتیار وحکمتیار دعوت ویکجا شدن آنرا با اداره بدنام کابل اګر ممکن ګردد از یګانه شاه کارهاي مهم وفتح بزرګ سیاسي خود میشمارد. در حالیکه سیاف در نقطه مخالف هردو نظر ها(رباني وحکمتیار) قرار ګرفته جنبش رایك مجمع وګروه کمونستي وملحد واله دست خارجیها به خصوص غربیها وامریکا میداند ویکجا شدن را با آن ظاهراً به هیچ صورت برخود هموار نمیکند. از این قماش مسایل وجریانات که سرنوشت ومنافع علیاي دیني وملي ارتباط میګرد زیاد به چشم میخورد که عناصر ائتلاف درآن وحدت نظر وهم آهنګي ندارند وروي سلیقه هاي شخصي وګروهي ومنافع موهومي خود عمل میکنند. و در تقابل با مسایل که به سیاست خارجي ارتباط میګرد هم دولت مردان اداره ائتلافي داراي روش وپالیسي واحد وهم آهنګ نبوده بلکه شکار تضادات وتناقضات میباشند واز دید ګاهي ارتباطات وواکنش هاي شخصي وګروهي خود به آن میګرند، ترجیح حزب اسلامي در سیاست خارجي روي وابستګي هاي نزدیك ومتعهدانه که باحلقه هاي به خصوص پاکستاني دارند بطرف پاکستان میباشد.وګمان میرود که غرض برآورده کردن همین مقصد به کابل فرستاده شده است . در حالیکه شوري نظار در نقطه مخالف آن سیاست دوستي وروابط با هند ، روسیه وایرانرا بر دوستي وروابط با پاکستان ترجیح میدهد و سایر اعضاء اتحاد هم روي وابستګي هاي مذهبي ، لساني وسیاسي به نفع بعضي کشورهاي عربي... وایران مصروف خدمت میباشد.

جمعیت وشوري نظار جلب همکاري ورضایت غرب را براي بقاء ورشد نظام سیاسي وحکومتي خود مفید مرجع ومقدم میشمارد در حالیکه سیاف که عضویت سازمان بین المللي اخوان المسلمین را دارا میباشد در نقطه مخالف سیاست شوري نظار وجمعیت قرار دارد و ګروهاي شیعه مذهب طبعاً دنباله رو سیاست هاي خارجي ایران در منطقه وجهان به خصوص مقابل امریکامیباشند که به این صورت اداره کابل داراي حیثیت وموقعیت دولتي نبوده وشکل یك شرکت واتحادیه یي را به خود ګرفته که اعضاي آن دنبال منافع به خصوص وشخصي خود میباشند.

وروي مجبوریتهاي محسوس وغیر محسوس ظاهراً در کنار هم ګرد آورده شده اند و به اصطلاح از منافع! خود دفاع میکنند ودر این دفاع نامقدس وناجایز همه منافع علیاي دیني وملي کشور وارزشهاي والاي جهاد وانقلاب اسلامي را از دست داده ومیدهند وعملکرد ظالمانه وخائنانه اوشان مقابل ملت ، ارزشهاي بزرګ انقلاب وجهاد اسلامي ونوامیس شخصي، دیني و ارزشهاي ملي در طول این چهار سال همه را معلوم وهویدا بوده که عیانرا چه حاجت به بیان .

اما تحریك اسلامي طالبان که صداي انقلاب و جهاد اسلامي ، حامي ودفاع ګر از ارزشهاي والاي انقلاب بزرګ ملت کبیر افغان ، خادم وحامي حاکمیت دیني وملي در وطن وپاسبان ارزشهاي مذهبي وروحاني در کشور وفرزند مخلص جامعه روحانیت میباشد. با روحیه خوف من الله وقصد خدمت به دین ووطن و همه امت اسلامي باداشتن یك قیادت واحد و صف متحد ومنظم وباداشتن برنامه مقدس آسماني (شریعت) به پیش به نصرت خدا(جل جلاله) وهمکاري‌بیدریغ ملت قهرمان ومجاهد افغان روان و دوان میباشندو در این راه مقدس هر مانع ومشکلي را خورد وناچیز پنداشته وبه فرار رسیدن صبح پیروزي کامل وهمه جانبه حق بر باطل یقین کامل دارند.

SHARIAT WEEKLY

Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.

PAK-RUPE A/C; CD. No. 1694-69

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch

Peshawar Pakistan